د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت
د افغانستان ملي راډيو تلويزيون لوی رياست
General Directorate of National Radio and Television of Afghanistan


# ملی




ملي مجله . ۱۴۰۴ کال . څلورمه ګڼه


کود اپلیکیشن ملی را سکن کنید

## مجلهٔ

خبری، علمی
سیاسی، اقتصادی، تحقیقی
ادبی و فرهنگی




# حدیث شریف

**( لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ، وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ)**

**ترجمه:**

کسی که امانت‌دار نیست، ایمان ندارد و کسی که به عهد خود وفا نمی‌کند، دین ندارد.

سنن الترمذی

ملی

د امتیاز څښتن: د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون
مسوول مدیر: ظهور کمال
پښتو لیکوال او گزارشگر: وحیدالله مومند
دري لیکوال او گزارشگر: قیام‌الدین امانیار
گرافیک ډیزاینر: حسیب‌الله پوپلزی
فوتو راپورتر: عمران ساپی
کتنپلاوی: مولوي محمد اسماعیل زاهدي، محمد اصغر مومند او میر ظهورالدین شهیر
پته: د وزیر محمد اکبرخان ۱۴سړک؛ د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون
ایمېل: magazine@rta.af

- ملي مجله ستاسو وړاندیزونو، نظرونو او نیوکو ته په تمه ده.
- ملي مجله د لیکنو د ایډیټ او لنډیز حق خوندي ساتي.
- ملي مجله د لیکوالانو، فرهنګپالو او شاعرانو لیکنو ته هرکلی وايي.

- د پښتی شرحه: د بُست تاریخي کلا دروازه

# لړلیک


| | |
|---|---|
| د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون مستقل شو | ۱ |
| تغییرات در رادیو تلویزیون ملی افغانستان... | ٤ |
| د نېزه وهنې اووم پړاو سیالۍ پای ته ورسېدې | ۸ |
| برگزاری دور هفتم لیگ بزکشی | ۱۰ |
| ملي راډیو ټلوېزیون پرته له انټرنېټ څخه د اداري مراسلاتو سیستم جوړوي | ۱۲ |
| د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون برنډینګ بدلیږي | ۱٦ |
| د افغانستان او هند تر منځ سیاسي، ټولنیزې او اقتصادي اړیکې | ۱۸ |
| از آبدات تاریخی افغانستان حفاظت می‌شود | ۲٦ |
| خواله رسنۍ او رواني جګړه | ۲۸ |
| فضیلت ماه مبارک رمضان | ۳۲ |
| له زلزلې څخه مخکې او وروسته د خوندیتوب لارښوونې | ۳٦ |
| اهمیت تخم‌های اصلاح شده در زراعت | ٤۰ |
| د انسانانو ترمنځ نزاکتونه | ٤۲ |
| اهمیت ادبیات کودک | ٤٤ |
| د غزني لرغوني منارونه | ٤۸ |
| احترام متقابل در جامعهٔ اسلامی | ۵۰ |
| د پښتو ولسي ادبیات ولې غني دي؟ | ۵۲ |
| د روژې روغتیایي ګټې | ۵٦ |
| اعمار لاین دوم شاهراه کابل-بغزنی | ٦۰ |
| افغانستان، محوریت اقتصادی منطقه | ٦٤ |
| RTA World | ٦۷ |
| د لقمان حکیم (رح) نصیحتونه خپل زوی ته! | ٦۸ |

# ځوانان؛
# د افغانستان راتلونکی او اوسنی مسؤلیت

## سرمقاله

افغانستان نن د ثبات، نظم او نوي پړاو په لور روان دی. دا پړاو که څه هم له اقتصادي او ټولنیزو ننګونو خالي نه دی، خو د بیارغونې، اصلاح او ځانبسیاینې لپاره مهم فرصتونه هم له ځان سره لري. په دې لاره کې تر ټولو مهم او اغېزناک ځواک ځوانان دي، هغه قشر چې هم د افغانستان راتلونکی جوړوي او هم د نن مسؤولیت پر اوږو لري.

د افغانستان اسلامي امارت له پیله پر دې ټینګار کړی چې د هېواد راتلونکی باید د علم، اخلاقو، کار او سالم فکر پر بنسټ جوړ شي. ځوانان د همدې لیدلوري اصلي لوبغاړي دي. زده‌کړه، که هغه دیني وي او که عصري، د انسان د فکر د سمون او د ټولنې د اصلاح وسیله ده. له علم وروسته، مهارت او کار د ځوانانو د ژوند اساسي اړتیا ده. نن سبا افغانستان داسې ځوانانو ته اړتیا لري چې پر ځان متکي، کارکوونکي او د حلال رزق د لاسته راوړلو هڅه کوونکي وي. کسب، کرنه، تجارت، لاسي صنایع او تخنیکي مهارتونه هغه برخې دي چې کولی شي ځوانان له بېکارۍ وژغوري او د هېواد د اقتصاد په پیاوړتیا کې رغنده رول ولوبوي. عزتمند کار د اسلامي او افغاني ارزښتونو له مخې د انسان وقار لوړوي او په ټولنه کې ثبات راولي. په اوسنیو شرایطو کې یوه جدي اندېښنه د ځوان فکر ساتنه ده. جګړو، بهرنیو تبلیغاتو او ناسمو افکارو په تېرو لسیزو کې د ځوانانو پر ذهن ژور اغېز کړی دی. اړتیا ده چې ځوان د افراط، فکري انحراف او مایوسۍ څخه وساتل شي او د دیني اخلاقو، ملي ارزښتونو او ټولنیز مسؤولیت پر لور سوق شي. دا کار د پوهاوي، روزنې او سالم بدیل برابرولو له لارې ښه عملي کېږي.

کورنۍ، علماء، ښوونیز بنسټونه او رسنۍ په دې برخه کې ستر مسؤولیت لري. ځوان باید احساس کړي چې د دې خاورې برخه دي، د دې نظام ملاتړ ورسره دی او د ده سالم فکر، کار او هڅه ارزښت لري.

په پای کې باید وویل شي چې ځوانان د افغانستان لپاره ستونزه نه، بلکې تر ټولو ستر فرصت دی. که دا فرصت د اسلامي ارزښتونو، ملي ګټو او واقعي اړتیاوو پر بنسټ سم مدیریت شي، نو لرې نه ده چې افغانستان به د یوه با ثباته، پر ځان متکي او ښه راتلونکي پر لور ګړندي ګامونه واخلي.




# د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون مستقل شو

د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون د هېواد د معاصر تاریخ له هغو بنسټونو څخه دی چې نه یوازې د دولت غړ پاتې شوی، بلکې د سیاسي بدلونونو، ټولنیزو تحولاتو او ملي روایتونو یو اساسي ثبتوونکی هم ګڼل کېږي. دغه ملي رسنیز بنسټ د خپل فعالیت له پیله تر نن ورځې پورې بېلابېلې اداري مرحلې او جوړښتونه تجربه کړي دي. کله یې د یوه مستقل بنسټ په توګه فعالیت کړی دی، کله د وزارت تر کچې لوړ شوی او کله بیا د اطلاعاتو او کلتور وزارت تر چتر لاندې شامل شوی دی چې دا ټول بدلونونه د وخت د اړتیاوو، سیاسي شرایطو او اداري مصلحتونو پر بنسټ رامنځته شوي دي.

د افغانستان اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون د اطلاعاتو او کلتور وزارت پورې مربوط شو، دا چې ملي رسنۍ له چټک تصمیم، پر وخت اقدام او بېځنډه همغږۍ ته اړتیا لري، حال دا چې اداري سلسله مراتب، رسمي مکتوبونه او څو پړاوي تصویبونه د نشراتي کار له ماهیت سره په ټکر او یا ځنډ کې واقع کېږي.

په اداري برخه کې ملي راډیو ټلوېزیون اړ و، چې خپل ټول رسمي مکتوبونه د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لارې ترسره کړي. دې چارو ډېر وخت نیولو او د ډېرو بېړنیو او مهمو پروګرامونو د عملي کېدو مخه به یې هم نیوله. کله به چې اړتیا وه له نورو ادارو سره مستقیمه همغږي وشي، دا همغږي باید د وزارت له لارې ترسره شوې وای، چې دا تل د نشراتو د ځنډ، د پروګرامونو د نه ثبتېدو او یا د ځانګړو خپرونو د لغوه کېدو لامل کېده، دا په دې مانا چې د ملي راډیو ټلوېزیون ګڼ اداري او رسنیز اهداف په ټاکلي وخت کې نه ترلاسه کېدل او دا تر ټولو لویه ستونزه وه.

د دې تر څنګ په مالي برخه کې هم ځینې ستونزې ډېرې محسوسېدې. د مالیې وزارت له نظره د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون له دوی سره د دویم بودیجوي واحد په توګه ثبت و، په داسې حال کې چې لومړی بودیجوي واحد د اطلاعاتو او



کلتور وزارت ګڼل کېده؛ همدا وضعیت د دې لامل شوی و چې مالي چارې، لګښتونه او د اړتیا وړ بودیجوي پرېکړې پر وخت ترسره نه شي. دغو ستونزو د تخنیکي وسایلو د ترمیم، نوي کېدو او یا د نشراتي تجهیزاتو د پېر اړتیا رامنځته کړې وه او له بل لوري د بودیجې د لګښتونو له سختو ستونزو سره دغه اداره مخ وه.

لکه څنګه چې نشراتي وسایل محدود عمر لري او که پر وخت نوي یا بیا ترمیم نه شي، د نشراتو پر کیفیت مستقیم اغېز کوي. په تېرو کلونو کې د انکشافي پروژو د تطبیق په برخه کې د اداري او مالي خنډونو له امله، د ملي راډیو ټلوېزیون د پرمختګ بهیر له ستونزو سره مخ و. د ځینو پروژو عملي کېدل وځنډېدل او د ځینو نور بشپړ تطبیق له جدي ننګونو سره مخ شو، چې دې چارې د نشراتو پر کچه او کیفیت ناوړه اغېز وکړ.

د دې ټولو ستونزو له ارزونې وروسته د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون رهبري په پرلهپسې ډول هڅې وکړې تر څو د اسلامي امارت له مشرتابه او اړوندو لوړپوړو مسوولینو سره دا واقعیتونه شریک کړي. په دغو ناستو کې په روښانه ډول دا څرګنده شوه چې ملي راډیو ټلوېزیون د خپل ملي مسوولیت او ستراتیژیک اهمیت له امله باید اداري استقلال ولري تر څو وکولی شي خپلې رسنیزې دندې په اغېزمن، چټک او مسلکي ډول ترسره کړي.

د همدې هڅو په پایله کې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه‌الله د حکم پر اساس د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون د یوه مستقل ریاست په توګه منظور شو. دا پرېکړه ټولو دولتي ادارو ته په رسمي ډول ابلاغ شوې او د تشکیلاتو په دفاعیه کې ملي راډیو ټلوېزیون د یوې مستقلې ادارې په توګه خپل تشکیلات، بودیجه او انکشافي پلانونه دفاع کړي دي. دغه مستقل‌والی ملي راډیو ټلوېزیون ته دا زمینه برابروي چې خپلې مالي، اداري او نشراتي پرېکړې په خپل وخت او د اړتیا له مخې ترسره کړي.

د دې پرېکړې تر شا یو بل مهم درک هم پروت دی، هغه دا چې د اسلامي امارت لوړپوړو چارواکو ته دا روښانه شوې ده چې رسنۍ په معاصرې نړۍ کې یوازې د خبر رسولو وسیله






نه ده، بلکې د افکارو جوړونې او ملي روایت د وړاندې کولو یوه ځواکمنه وسیله ګڼل کېږي. له همدې امله د ملي رسنیو نسبي واک د پرمختګ لپاره بنسټیز ارزښت لري.

د کارکوونکو د امتیازاتو ستونزه هم یوه مهمه ستونزه وه، د مالي محدودیتونو له کبله د ملي راډیو ټلوېزیون د کارکوونکو امتیازات محدود شوي وو، حال دا چې دغه کارکوونکي د ورځې او شپې په هر ساعت کې د ملي رسنیو د خدمت مسوولیت پر غاړه لري. د مستقل کېدو سره تمه ده چې دا ستونزه حل او د کارکوونکو کاري او اقتصادي وضعیت لا ښه شي؛ همدارنګه د هېواد په نږدې ټولو ولایتونو کې د ملي راډیو ټلوېزیون مستقل امریتونه فعال دي. پخوا به د ولایتونو د اطلاعاتو او کلتور ریاستونو دا خپله دنده ګڼله، چې د ملي راډیو ټلوېزیون ټولې ولایتي خپرونې وڅېړي او بیا یې مرکزي ریاست ته واستوي. دا بهیر د اداري ځنډ او کاري خنډونو سبب کېده، خو اوس مهال کولای شي چې ولایتي امریتونه خپلې نشراتي چارې په چټک او مسلکي ډول په اغېزمن ډول پر مخ یوسي او د خبرونو، خپرونو او نورو اړوندو پروګرامونو په نشر کې خنډ یا ځنډ رامنځته نه شي.




د یادونې وړ ده چې ملي راډیو ټلوېزیون د راتلونکي کال لپاره مشخصې انکشافي موخې لري، چې د تطبیق په صورت کې به یې د ادارې په تخنیکي، اداري او رسنیزو برخو کې پراخ مثبت بدلونونه رامنځته شي. پر دې سربېره د محدود شمېر تشکیلاتي بستونو د زیاتوالي غوښتنه هم شوې ده. په ټوله کې د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون دا بدلون یو ستر او بنسټیز ګام دی، چې د دې ملي رسنۍ اداري ستونزې راکموي او د هېواد د رسنیز نظام د پیاوړتیا لپاره هم نوی باب پرانیزي.

# تغییرات در رادیو تلویزیون ملی افغانستان بعد از روی کار آمدن دوباره امارت اسلامی

رادیو تلویزیون ملی به عنوان یک رسانۀ ملی و دولتی افغانستان پل ارتباطی حکومت و ملت به حساب میاید و از اوضاع افغانستان و جهان برای ملت اطلاع رسانی می‌کند. طبق معمول رویدادهای تازه افغانستان وجهان را تحت پوشش خبری قرار می‌دهد و برنامه‌های مناسبتی را به طور زنده به نشر می‌رساند.

بعد از روی کار آمدن دوبارۀ حکومت امارت اسلامی در افغانستان طبق پالیسی دولت، تصمیم رهبری رادیو تلویزیون ملی افغانستان بر آن شد تا در این رسانۀ ملی تغییرات اصلاحی آورده شود علی‌رغم کارهای یومیه در بخش‌های دیگر این رسانه تغییرات مهم به میان آمده است. از جمله ملکیت‌های رادیو تلویزیون ملی افغانستان از غاصبان زمین دوباره برگشتانده شد و به این رسانۀ ملی تعلق گرفت.

در بخش نشرات رادیو تلویزیون ملی اصلاحات فزایندۀ اعمال گردید. برنامه‌های غیر ضروری حذف گردید و در عوض برنامه‌های مهمی با در نظر داشت اصول دین مبین اسلام، منافع ملی و فرهنگ مردم افغانستان طبق ضرورت جامعه نشر می‌گردد. از جمله تغییرات مهم که در این عرصه به میان آمده، نشرات اسلامی افزایش یافت و چندین برنامه رادیویی و تلویزیونی از امواج رادیو و صفحۀ تلویزیون ملی به نشر می‌رسد تا به مردم در عرصۀ عقیدوی و اسلامی آگاهی دهی نماید.

همچنان در بخش مبارزات رسانۀیی رادیو تلویزیون ملی افغانستان مسؤولیت مهم را به دوش گرفت چون افغانستان از دست غاصبین غربی رهایی یافت و همه دسیسه‌های آنان با شکست مواجه شد، دشمن در همۀ سنگرها شکست خورد اما نشرات رسانه‌یی آنان همچنان فعال است. که چندین رسانه به گونۀ زنده در مخالفت با حکومت امارت اسلامی نشرات دارد و می‌خواهد از این طریق برای افغانستان مشکل ایجاد نماید. مبارزه با این همه نشرات مخالفین کشور و امارت اسلامی را رادیو تلویزیون ملی افغانستان به دوش گرفته است. رادیو تلویزیون ملی افغانستان تمام نشرات رسانه‌های غربی را تحت نظر دارد و همه پروپاگندا، نشرات عقده مندانه و غیر دقیق غرب را راستی آزمایی می‌کند و به گونۀ درست، طبق واقعیت‌های جامعۀ افغانی آن را برای مردم افغانستان نشر می‌کند و این یک مسؤولیت بسیار بزرگ ملی و اسلامی است که رادیو تلویزیون ملی افغانستان در آن خوب می‌درخشد.

در بخش تشکیلات کارکنان نیز در رادیو تلویزیون ملی افغانستان تغییرات به میان آمد که بست‌های غیر ضروری حذف شد و تا حدی کارکنان آن بست‌ها در بخش‌های مناسب دیگر تقرر حاصل کردند. همچنان بست‌هایی که به دلایل مختلف چون تقاعد، ارتقاء، تنزیل، تبدیلی کارکنان خالی شد، کارمندان جدید با در نظر داشت تحصیلات، تخصص و تعهد به نظام گماشته شدند که در روند امور یومیه ایفای مسؤولیت می‌کنند.



در بخش ترانسپورت رادیو تلویزیون ملی نیز تغییرات چشم‌گیر اعمال گردید. رادیو تلویزیون ملی افغانستان که با مسؤولیت‌های زیاد همه روزه به گونهٔ بیست و چهار ساعته نشرات دارد. بنا بر فعالیت شب و روز، کتله بزرگ کارکنان در رادیو تلویزیون ملی  بخش ترانسپورت نیز مداوم فعال می‌باشد و در این پیوند برای کارمندان رادیو تلویزیون ملی خدمات ارائه می‌کنند تا کارمندان و کارکنان را در وقت نوکریوالی از خانه‌های شان به دفتر بیاورند و بعد از ایفای مسؤولیت کارمندان و کارکنان را به منازل شان برساند تا در کار و فعالیت رادیو تلویزیون ملی خلل وارد نشود. برای شفافیت و جلوگیری از سؤاستفاده در هر موتر رادیو تلویزیون ملی وسیلهٔ جی پی اس نصب گردیده تا هنگام سفر به نکات مختلف شهر کابل و سفرهای ولایتی مسیر وسایط نقلیه به دفتر و مسؤولین بخش مربوطه معلوم باشد، همچنان وسایط نقلیه ترانسپورت طبق برندنگ این نهاد ملی با ستیکرهای آبی رنگ ویژهٔ رادیو تلویزیون ملی مزین گردید تا مسؤولین سایر نهادهای امارتی هنگام ضرورت با کارمندان این رسانه همکاری داشته باشند.

برای نشر اخبار ملی و بین المللی چینل RTA World فعال گردید. این چینل اخبار خارجی و داخلی را به زبان‌های بین المللی انگلیسی و عربی به گونهٔ منظم به نشر می‌رساند، تا جهانیان را از اوضاع افغانستان آگاه سازد.

چینل تلویزیونی ملی سپورت در بخش ورزش فعال است و در هماهنگی با اداره تربیت بدنی و ورزش افغانستان تمام برنامه‌های سپورتی را به گونهٔ زنده و کیفیت عالی برای علاقمندان ورزش به نشر می‌رساند، معمولاً بدون کدام عامل خارجی ثبت و نشر مسابقات ورزش را به پیش می‌برد.

بخش مستندات قبلاً در چارچوب یک مدیریت عمومی فعالیت داشت اما بعد از روی کار آمدن امارت اسلامی به آمریت مستندات ارتقاء یافت و مسؤولیت‌های ویژه به این آمریت سپرده شد. آمریت مستندات از تمام وقایع مهم بیست سال جهاد امارت اسلامی در مقابل ناتو و امریکا، موضوعات اقتصادی، بازسازی کشور و تغییرات مهم، فلم‌های مستند تهیه می‌نماید و از صفحهٔ تلویزیون ملی و امواج رادیو به گونهٔ صوتی به نشر می‌سپارد.

رادیو تلویزیون ملی افغانستان در بخش مطبوعات چاپی مجلهٔ ملی را فعال ساخت که معمولاً در هر سه ماه یک بار چاپ می‌شود و مطالب خبری، علمی، سیاسی، اقتصادی، تحقیقی، ادبی و فرهنگی را بازتاب می‌دهد. همچنان سلسلهٔ چاپ کتاب‌های داستان‌های مستند را نیز آغاز کرده که تا اکنون یک کتاب آن به نام (د وینو لار) به نشر رسیده و محتوای آن را داستان‌های مستند جرایم جنگی ناتو و جهاد مردم افغانستان تشکیل می‌دهد. این سلسله همچنان جریان خواهد داشت و کتاب‌های بیشتر نیز از این سلسله به چاپ خواهد رسید.



# د نېزه وهنې اووم پړاو سيالۍ پای ته ورسېدې

لوبې د انسان د جسمي، ذهني او ټولنيز پرمختګ له مهمو برخو څخه ګڼل کېږي. د لوبو له بېلابېلو ډانګو څخه يوه مهمه او لرغونې لوبه نېزه‌وهنه ده. نېزه‌وهنه د نورو لوبو په څېر يوه سيالۍ ده، چې د انساني تاريخ له لومړنيو اړتياوو لکه ښکار او جګړې سره تړاو لري. دا لوبه نن ورځ د نړۍ په کچه له مهمو لوبو څخه شمېرل کېږي او په نړيوالو سياليو کې ځانګړی ځای لري.

نېزه‌وهنه هغه ورزشي لوبه ده چې په کې يو لوبغاړی د ځانګړو قوانينو له مخې يوه اوږده نېزه د منډې له اخيستلو وروسته د يوې دايرې په منځ کې د مړوي نښې پر لور غځوي، د لوبغاړي هدف دا وي چې نېزه په قانوني ډول په ټاکلي ميدان کې او تر ټولو زياته فاصله کې د ځمکې په سر ټاکل شوې نښې ته ورسوي او هغه راپورته کړي، که نښه يې راپورته کړه نو څلور نمرې ورکول کېږي او که چېرې نښه يې چپه کړه يا پر نېزه ولګېده او راپورته نشوه نو دوه نمرې ورکول کېږي. د لوبغاړي بريا د نېزې د غورځولو په واټن کې د نښې د وهلو يا پورته کولو پورې تړلې وي.

نېزه‌وهنه له پخوا نه دود ده. په پخوانيو تمدنونو کې نېزه د ښکار، ځان ساتنې او جګړې لپاره کارېده. د تاريخ له مخې د لرغوني يونان خلک لومړني کسان وو چې نېزه‌وهنه يې د يوه ورزشي فعاليت په توګه تنظيم کړه، وروسته د وخت په تېرېدو سره نېزه‌وهنه له جګړه‌ييز او ښکاري وسيلې څخه په تدريج يوې ورزشي لوبې ته واوښته. په معاصر وخت کې دا لوبه د شلمې پېړۍ له پيل راهيسې د نړيوال ورزش برخه ګرځېدلې. د نېزه وهونکي په لاس کې يوه تېره اوږده نېزه وي، دا وسيله نرۍ او سپکه وسيله ده چې په عموم کې فلزي سر لري او بدن يې د فلز، فايبر يا ځانګړو موادو څخه جوړ شوی وي. نېزه داسې طرحه شوې وي چې د هوا په منځ کې متوازن حرکت وکړي او مخ يې لومړۍ له ځمکې سره لګېږي. د نارينه‌وو د نېزې وزن شاوخوا ۸۰۰ ګرامه او اوږدوالی يې نږدې ۲،۶ تر ۲،۷ متره وي. د نېزه‌وهنې ميدان ځانګړی جوړښت لري. لوبغاړی د منډې لپاره له يوې هوارې لارې څخه کار اخلي چې ورته د منډې لاره ويل کېږي. دا لاره معمولا ۳۰ تر ۳۶ مترو پورې اوږدوالی لري. د نېزې د ښکار ساحه د مثلث يا دايرې په بڼه وي چې شاوخوا ۲۹ درجې زاويه لري. نېزه بايد د همدې ساحې دننه ځمکې ته ولګېږي تر څو ښکار يا نښه يې قانوني وبلل شي.

نېزه‌وهنه ځانګړي قوانين لري چې لوبغاړي يې بايد مراعت کړي، مهم قوانين يې دا دي چې لوبغاړی بايد نېزه د لاس له شا څخه واچوي او که چېرته نښه وي نو په يو لاس د اس د غاړې بند نيسي او په بل لاس نېزه کښته کوي، لوبغاړی اجازه نه لري چې د غورځولو پر مهال بشپړ ۳۶۰ درجې تاو شي، که نېزه له ټاکلې ساحې بهر ولګېږي، يا نښه پورته نشي کړای نو ښکار يې باطل ګڼل کېږي.

يو بريالی نيزه‌وهونکی بايد ځانګړې فزيکي او ذهني ځانګړنې ولري، لکه قوي لاسونه، پراخې اوږې او پياوړې ملا، ښه سرعت او منډه، د بدن توازن او همغږي، تمرکز، حوصله او تخنيکي مهارت، د منډې او غورځولو ترمنځ سمه همغږي او په ټوله کې ذهني او د فزيکي تمرکز وړتياوې ولري.

په افغانستان کې نيزه‌وهنه هم د عصري ورزش په توګه او هم په دوديز شکل رواج لري. په ځينو ولايتونو لکه غزني، ننګرهار، لغمان، پکتيا، لوګر، خوست، پکتيکا او کابل کې د ځوانانو ترمنځ دا لوبه ليدل کېږي. په کليوالو سيمو کې کله ناکله د مېلو او دوديزو سياليو پر مهال د نيزې وهنې نندارې ترسره کېږي. که څه هم دا لوبه لا هم پراخ رسمي ملاتړ ته اړتيا لري، خو د ځوانانو لېوالتيا ورته ورځ تر بلې زياتېږي.

د نېزې وهنې ګټې دا دي چې د نېزه وهونکي د بدن عضلې پياوړې کېږي، سرعت او انعطاف يې ډېرېږي، تمرکز يې لوړېږي او دقت ترلاسه کوي، د سالمې سيالۍ او نظم روزنه اخلي او د نښې ويشتلو قدرت يې پياوړی کېږي.

نېزه‌وهنه يوه لرغونې خو ارزښتناکه ورزشي لوبه ده چې هم تاريخي شاليد لري او هم په معاصر ورزش کې ډېر مينوال لري. دا لوبه د ځواک، سرعت، تخنيک او ذهني تمرکز ګډ جوړښت دی. په افغانستان کې د نېزه‌وهنې پراختيا کولی شي د ځوانانو فزيکي او ذهني روزنه پياوړې کړي او ورزشي فرهنګ ته وده ورکړي.

له نېکه مرغه سږ کال بيا د نېزه وهنې اووم پړاو سيالۍ د درېيو ورځو په موده کې ترسره شوې چې په دې لوبو کې د درېيو ولايتونو کابل، لوګر او پکتيکا لوبډلو ګډون کړی وو، چې د دې لوبو په لړۍ کې لومړی مقام د پکتيکا لوبډلې، دويم مقام د کابل لوبډلې او درېيم مقام د لوګر لوبډلې وګاټه، درېيم مقام ته يې ۵۰۰ ډالر انعام، دويم مقام ته ۱۰۰۰ ډالر جايزه ورکړل شوه او لومړي مقام ته ۱۵۰۰ ډالر جايزه ورکړل شوه، د يادونې وړ ده چې دا لوبې په ژوندۍ بڼه د ملي سپورت ټلوېزيون له لارې هېوادوالو ته خپرې شوې.



# برگزاری دور هفتم لیگ بزکشی

بزکشی یکی از بازی‌های پر طرفدار در افغانستان و کشورهای آسیای میانه است که از دیر باز تا اکنون علاقمندان زیادی دارد. در سال‌های اخیر بازی بزکشی در کشور رونق یافته و همه ساله از سوی فدارسیون بازی‌های محلی ادارهٔ ملی تربیت بدنی و سپورت افغانستان مسابقات ملی آن برگزار می‌شود.

بازی بزکشی یکی از پر هیجان‌ترین بازی‌های جهان است که بینندگان را به خوبی جذب می‌کند. پهلوانان این بخش نیز مردم سرسخت و بسیار نیرومند استند که برای رقابت به میدان مسابقه می‌روند و برای موفقیت می‌درخشند.

همه ساله حق نشر بازی‌های بزکشی را رادیو تلویزیون ملی افغانستان قرارداد می‌کند و رادیو تلویزیون ملی افغانستان به ویژه چینل ملی سپورت پخش، نشر و پرودکشن این بازی‌ها را به عهده دارد. در این اواخر دور هفتم لیگ بزکشی افغانستان برگزار گردید و از تلویزیون ملی سپورت و آدرس‌های رسانه‌های اجتماعی این رسانه به طور زنده و کیفیت عالی برای علاقمندان بزکشی نشر گردید.

این دور لیگ بزکشی افغانستان به دلیل حمایت مالی شرکت یما پترول به نام دور هفتم لیگ بزکشی یما پترول مسمی گردیده بود و در میدان مسابقات بزکشی یکه توت کابل به تاریخ بیست و یک برج قوس آغاز گردید الی تاریخ اول برج جدی ادامه داشت. همه روزه سه و یا هم دو بازی برگزار می‌شد، در مجموع در این لیگ یازده تیم در چهار گروپ از ولایات مختلف اشتراک داشتند.





در گروپ (الف) تیم‌های کندز، فاریاب و بلخ، در گروپ (ب) تیم‌های بدخشان، تخار و بامیان، در گروپ (ج) تیم‌های سرپل، سمنگان و پنجشیر و در گروپ (د) تیم‌های هرات و بغلان عضویت داشتند. در این دور لیگ بزکشی علاوه بر بازی‌کنان داخلی حضور بازی‌کنان خارجی نیز چشم‌گیر بود. از جمع این یازده تیم که در این لیگ درخشیدند دست کم در چهار تیم آن دو دو پهلوان قرغیزستانی و در یک تیم دیگر آن دو پهلوان تاجکستانی عضویت داشتند. حضور بازی‌کنان خارجی لیگ بزکشی را هیجان فوق العاده بخشیده بود چون در گذشته بازی‌کنان نخبه در یک تیم با حمایت مالی بسیار بلند گرد هم می‌آمدند و تقریبا از آغاز بازی‌ها نمایان بود که آن تیم قهرمانی لیگ را به دست خواهد آورد اما در دور هفتم لیگ بزکشی هیچ تخمین زده نمی‌شد که کدام تیم برنده خواهد شد بنا بر آن مسابقات این دور نفس‌گیر و غیر





قابل پیش‌بینی بود که کدام تیم از جمع آن در نهایت برنده این مسابقات خواهد شد.

در لیگ هفتم بزکشی چهار تیم (بغلان، بدخشان، کندز و سرپل) با ترکیب بازی‌کنان قیرغزستانی به بازی‌های نیمه نهایی راه‌یافتند؛ تیم بغلان در مقابل بدخشان شکست خورد و کندز در مقابل سرپل با شکست مواجه شد.

در نهایت این رقابت‌های نفس‌گیر تیم‌های بدخشان و سرپل به بازی‌های نهایی راه یافتند و مورخ اول برج جدی بازی نهایی این لیگ برگزار شد. تیم سرپل با کسب نه امتیاز قهرمانی این لیگ را به بدست آورد و تیم بدخشان در جایگاه نائب قهرمانی این دور بازی‌های بزکشی قرار گرفت.

# ملي راډيو ټلوېزيون پرته له انټرنيټ څخه د اداري مراسلاتو سيستم جوړوي







د افغانستان ملي راډيو ټلوېزيون رهبرۍ د اوسني وخت له اړتياوو، غوښتنو او د نوې نړۍ د چټکو پرمختګونو په نظر کې نيولو سره د اداري چارو د لا اسانتيا، چټکتيا او معياري کېدو په موخه د اداري مراسلاتو يو نوی، عصري او هر اړخيز برښنايي سيستم د جوړولو تکل لري، دا سيستم چې د مکتوبونو، غوښتنليکونو، استعلامونو او نورو رسمي اداري اسنادو د تنظيم، لېږد، ثبت او تعقيب لپاره طرحه شوی دی، لويه موخه يې دا ده چې دوديز کاغذي سيستم تر ډېره له منځه يوسي او هغه ستونزې پای ته ورسوي چې د کاغذونو د لاس په لاس ګرځېدو له امله رامنځته کېدې، لکه د وخت ضايع کېدل، اداري ځنډونه، د اسنادو ورکېدل او د کاري بهير ټکني کېدل، له دې وروسته به نوره اړتيا نه وي چې د ملي راډيو ټلوېزيون په داخل کې مکتوبونه په فزيکي ډول له يوې ادارې بلې ته ولېږدول شي بلکې کارکوونکي به خپلې اداري چارې په ډېر کم وخت او له خپل کاري دفتر څخه ترسره کوي.

دا برښنايي سيستم په پښتو او دري ژبو د کارولو بشپړ ظرفيت لري، تر څو د ملي راډيو ټلوېزيون ټول کارکوونکي پرته له ژبنيو ستونزو ورڅخه استفاده وکړای شي، همدارنګه دا سيستم په سپين او تور رنګ کې د استفادې وړ دی چې د دوامداره کار پر مهال د اسانتيا او ساده والي سبب ګرځي او د انسان د سترګو روغتيا هم پکې په نظر کې نيول شوې ده، په دې وېب اپليکيشن کې د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون د ټولو رياستونو، امريتونو، مديريتونو او اړوندو دفترونو بشپړ نوملړونه شامل دي، چې دا کار د اداري سلسله مراتبو د دقيق رعايت زمينه برابروي او کارکوونکي اړ باسي چې خپل ټول رسمي مراسلات د ټاکل شوي اداري چوکاټ له مخې د همدې سيستم له لارې ترسره کړي.




په دې سيستم کې د اداري مراسلاتو بهير داسې تنظيم شوی چې شفافيت، مسؤوليت او کنټرول تضمين کړي، کارمند کولای شي خپل مکتوب په ډېرې اسانۍ سره په سيستم کې وليکي او اړوند مسؤول امر ته يې ولېږي، که مکتوب له اداري او تخنيکي پلوه سم وي، نو امر يې تاييدوي او په يوه کلېک سره يې د اړوندې برخې رئيس ته لېږي، خو که چېرې مکتوب ناسم وي يا اصلاح ته اړتيا ولري، نو لغوه کېږي او بېرته کارمند ته استول کېږي، تر څو اړين اصلاحات پکې راولي او بيا يې د دويم ځل لپاره سيستم ته داخل کړي، په همدې منظمې تګلارې سره مکتوب له يوه کارکوونکي څخه پيل او د ادارې تر ټولو اړوندو رياستونو او برخو پورې رسېږي او ټول پړاوونه يې په سيستم کې ثبتېږي.

دغه سيستم د مکتوبونو، پېشنهادونو او استعلامونو د لېږد وړتيا لري، تر څنګ يې د مکتوبونو د تکثير، وېش، ثبت او تعقيب بشپړ توان هم لري، که مکتوب داخلي وي او که له بهرنيو ادارو څخه ملي راډيو ټلوېزيون ته را رسېدلی وي، د اړوندې برخې کارکوونکي به هغه سکن کوي او د تاريخ، نېټې، نوم، صادره او وارده نمبر له دقيق ثبت وروسته به يې سيستم ته خوندي اپلوډ کوي، له دې وروسته به د ځواب مکتوبونه هم د اداري سلسله مراتبو له بشپړېدو وروسته د همدې سيستم له لارې چاپ کېږي او بېرته اړوندو ادارو ته لېږل کېږي، چې دا چاره د اسنادو د ثبت، تعقيب او حساب ورکونې بهير لا پياوړی کوي.

دا سيستم په لوړ خلاقيت او د عصري ټکنالوژۍ پر بنسټ جوړېږي او په عملي کېدو سره به يې کارکوونکي نور اړ نه وي چې ساعتونه خپل وخت






ضایع، اداري تګ راتګ، د مکتوبونو په تعقیب او د کاغذي اسنادو په لټون ضایع کړي، بلکې کولای شي ټول اداري مسؤولیتونه په ډېره کمه موده او له خپل دفتر څخه ترسره کړي، د هر مکتوب د داخلېدو، تایید، رد یا لېږد په اړه به اړوندو مسوولینو ته سم له لاسه نوټیفیکشنونه استول کېږي، تر څو هېڅ اداري سند له پامه ونه غورځول شي او کاري بهیر پرله پسې روان پاتې شي.

له بلې خوا دا سیستم د یو پیاوړي ډیټابېس او خوندي ارشیف وړتیا هم لري، چې ټول اداري اسناد به پکې په منظم ډول ذخیره کېږي، دا ارشیف به د دې وړتیا ولري چې اسناد د اوږدې مودې لپاره وساتي او که هر ډول طبیعي افتونه، ناڅاپي پېښې یا تخنیکي ستونزې رامنځته شي، بیا هم ټول معلومات به په انټرنټي فضا کې د تل لپاره خوندي پاتې شي، هر اړوند کارکوونکی کولای شي د اړتیا پر مهال خپل مکتوبونه او اداري مراسلات په څو دقیقو کې ولټوي او ترلاسه یې کړي، خو ارشیف او نورو محرمو اسنادو ته به یوازې ټاکل شوي او باصلاحیته کسانو ته لاسرسی ورکول کېږي، څکه د دې سیستم محرمیت په بشپړه مانا خوندي او د باور وړ دی.

د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون هر کارکوونکي ته به د هغه د دندې، صلاحیت او مسوولیت له مخې د استفادې ځانګړي اختیارات ورکول کېږي، یعنې ټول کارکوونکي به ونه شي کولی چې ارشیف یا نورو محرمو سندونو ته لاسرسی ولري، د سیستم د داخلېدو لپاره به هر کس ته ځانګړی یوزر ورکول کېږي، چې دا چاره د امنیت کچه لا لوړوي، همدارنګه د دې سیستم له جوړېدو وروسته به د ملي راډیو ټلوېزیون کارکوونکو ته د دوو اونیو لپاره د کارولو ځانګړې روزنه ورکول کېږي او له روزنې وروسته به د دوو اونیو لپاره دا سیستم د امتحاني استفادې په ډول تطبیق شي، تر څو ټولې نیمګړتیاوې را برسېره شي او اړین اصلاحات پکې رامنځته شي، تر څو سیستم په بشپړه توګه د عملي کار لپاره چمتو شي.

د اداري مراسلاتو دا نوی برښنایي سیستم د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون لپاره یو ستر اداري بدلون بلل کېږي، چې اداري یا کاري بهیر عصري، منظم او شفاف کړي، تر څنګ یې د وخت، امکاناتو او بشري ځواک د سپما تر څنګ به د ملي راډیو ټلوېزیون اداري اعتبار، موثریت او مسلکیتوب لا پیاوړی کړي او د هېواد په کچه به د برښنایي ادارې یوه بریالۍ بېلګه وي.

په ټوله کې دا سیستم د Word بدیل دی، پرته له انټرنیټ څخه کار کوي، د دې تر څنګ د مکتوبونو، پېشنهادونو، استعلامونو، مسودو او نورو اسنادو ځانګړي فارمټونه لري او ټول کارکوونکي کولی شي چې په ډېرې اسانۍ خپل اداري






| ID | شماره وارده | شماره صادره | عنوان | صادر کننده | پست صادر کننده | به | وضعیت | عملیات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 11 | 12 | ................ | ................ | ................ | وزارت مخابرات | تعریف نشده | |
| 2 | 12 | 13 | ................ | ................ | ................ | معاونیت عمومی | تعریف نشده | |
| 3 | 13 | 14 | ................ | ................ | ................ | ریاست عمومی | تعریف نشده | |

کارونه پرې ترسره کړي، د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون رهبرۍ تل هڅه کړې چې په اداري کارونو کې نوښت رامنځته کړي او د دې تر څنګ نورو دولتي ادارو او وزارتونو ته د یاد سیستم په ورکړې کې پوره همکارۍ ته چمتوالی ښودلی، که چېرې نورې دولتي ادارې او وزارتونه د ادراي چارو د پرمختګ لپاره وړیا مرستې او دغه پرمختللي سیستم ته اړتیا لري نو کولای شي د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون له رهبرۍ سره همغږي وکړي.

د یادونې وړ ده چې له دې وړاندې هم په بېلابېلو برخو کې ملي راډیو ټلوېزیون برښنایي لاسته راوړنې لرلې، چې د کارونو په اسانتیا کې یې بشپړ مثبت رول لوبولی دی او د نورو بدلونونو په رامنځته کولو کې هم هڅې روانې دي.



# د افغانستان ملي راډيو ټلويزيون برنډېنګ بدليږي

د افغانستان ملي راډيو ټلوېزيون د هېواد رسمي او اغېزمن رسنيز بنسټ په توګه د وخت له اړتياوو، د رسنيزو معيارونو له بدلون او د ليدونکو د ذوق له پرمختګ سره سم د خپل بصري هويت يا برنډېنګ د معياري کولو پرېکړه کړې ده.

ملي راډيو ټلوېزيون دا مهال پنځه ټلوېزيوني چينلونه لري چې ملي ټلوېزيون، ملي نيوز، ملي سپورټ، تعليمي او تربيتي ټلوېزيون او RTA World پکې شامل دي، دا چينلونه که څه هم د منګپانګې له پلوه هر يو خپل ځانګړی ماموريت لري، خو د برنډېنګ په برخه کې تر دې وړاندې داسې ستونزې موجودې وې چې د تصوير شکلا، د متن وضاحت او د ليدونکو د پام جلبولو په برخو کې يې ستونزې وې. د پخواني برنډېنګ تر ټولو مهمې نيمګړتياوې د رنګونو محدوديت، د ځينو رنګونو د تضاد نشتون، د فونټونو غيرمعياري انتخاب او په ځانګړي ډول په ژونديو خپرونو کې د ليکنو د نه برجستګې ستونزه وه، ځکه داسې رنګونه کارېدل چې د سکرين له روښانتيا سره يې همغږي نه لرله او متن پرې روښانه نه ښکارېده چې دا چاره د خبرونو، عاجلو سرليکونو او معلوماتي ويډيوګانو د لوستلو بهير يې له ستونزو سره مخ کړی و؛ همدارنګه ځينې فونټونه د ټلوېزيوني چوکاټونو لپاره مناسب نه وو، جملې يې ګډې وډې ښکارېدې، د کرښو ترمنځ واټن سم نه و او د متن منظم جوړښت يې زيانمن کړی و، چې له امله يې خپروني د مسلکي معيار له کچې ټيټې برېښېدې. د همدې ستونزو د حل لپاره د افغانستان ملي راډيو ټلوېزيون رهبرۍ پرېکړه وکړه چې د نوي لمريز کال له پيل سره سم په برنډېنګ کې بنسټيز او د اړتيا وړ بدلونونه راولي، تر څو د ملي ټلوېزيون بصري هويت له عصري رسنيزو معيارونو سره نور هم ښه عيار شي او د مخاطبينو لپاره روښانه، منظمه او واضحه بڼه وړاندې کړي.

د برنډېنګ د نوي کولو دا بهير د مسلکي ګرافيک ډيزاين کارکوونکو په مرسته پيل شوی او تر دې دمه يې شاوخوا نوې سلنه چارې بشپړې شوې دي، دا خپله د يوه جدي، تخنيکي او پلان شوي کار ښکارندويي کوي. په نوي برنډېنګ کې د ملي راډيو ټلوېزيون اساسي رنګونه نه دي بدل شوي، بلکې تقويه شوي دي، ځکه پخواني رنګونه لکه فيروزيي، سرمه‌يي، ابي او سپين د افغانستان ملي راډيو ټلوېزيون د رنګونو د برنډينګ برخه ګڼل کېږي، خو اوس ورته د مرستندوی رنګونو په اضافه کولو سره نوی توازن ورکړل شوی دی؛ د بېلګې په توګه د تور رنګ محدود او سم استعمال، ځيګري رنګ او ځينې نور همغږي رنګونه ور زيات شوي دي، تر څو د متن او تصوير ترمنځ روښانه تضاد رامنځته کړي او بصري برجستګي زياته شي.

د فونټونو په برخه کې هم جدي اصلاحات شوي دي، داسې فونټونه انتخاب شوي چې د ټلوېزيوني خپرونو له تخنيکي اړتياوو سره سمون ولري، په سکرين کې اسانه لوستل کېدونکي وي او د جملو منظم جوړښت وساتي، چې دا چاره د خبرونو، پروګرامونو او معلوماتي خپرونو مسلکي بڼه لا پياوړې کوي.

د يادونې وړ ده چې ملي راډيو ټلوېزيون د خپل تشکيلاتي جوړښت په چوکاټ کې د برنډېنګ او ګرافيک په برخه کې مسلکي او تجربه‌لرونکي کارکوونکي لري او دا ټول بدلونونه د همغوی د دوامداره هڅو، تخنيکي پوهې او مسلکي تجربې پايله ده، همدارنګه دا نوی برنډېنګ به د ټلوېزيوني چاينلونو د تصوير په ټولو چوکاټونو او برخو کې عملي کېږي او په ټولو ژونديو او ثبتي خپرونو کې به ترې استفاده وشي، پر دې سربېره د ملي راډيو ټلوېزيون د ټولنيزو رسنيو پاڼو لپاره هم همدا واحد او منظم برنډېنګ کارول کېږي، تر څو د دې ملي بنسټ څېره په ټولو رسنيزو پلاټفورمونو کې يو شان، معياري او پېژندل کېدونکې وي. د پايلې په توګه تمه ده چې د دې بدلونونو په عملي کېدو سره به د افغانستان ملي راډيو ټلوېزيون خپرونې له بصري پلوه لا ښکلې، له تخنيکي اړخه لا پياوړې او د ليدونکو لپاره لا جذابې شي او دا ملي رسنيز بنسټ به وکولای شي خپل پيغام په روښانه، اغېزمن او معاصر شکل تر مخاطبينو او هېوادوالو پورې ورسوي.



# د افغانستان او هند

## تر منځ سیاسي، ټولنیزې او اقتصادي اړیکې



افغانستان د سیمې له هېوادونو او په ځانګړې ډول له هندوستان سره تاریخي مثبتې اړیکې لري. د هند او افغانستان تر منځ سیاسي او اقتصادي اړیکې د دواړو هېوادونو په سیمه‌ییز اهمیت، تاریخي نږدېوالي او ستراتیژیکو اړتیاوو ولاړې دي او د افغانستان اسلامي امارت له بیا راتګ وروسته دغو اړیکو یوه نوې بڼه خپله کړې ده. هندوستان په تېرو څو کالونو کې له افغان حکومت سره د سیاست، اقتصاد او بشري مرستو په ډګر کې پراخ تعامل کړی دی او خپلې اړیکې یې د سیاسي لیدنو، اقتصادي او بشري مرستو له لارې پیاوړې ساتلې دي. هند په افغانستان کې په تدریجي ډول خپل ډیپلوماتیک ماموریت پراخوي، چې دا کار د اړیکو د دوام او د هندي سیاستوالو د غوره تګلارې ځرګندونه کوي. د تېرو څلورو کالونو په موده کې د هند او افغانستان د بهرنیو چارو د وزیرانو کتنې، د اعتماد جوړونې هڅې، بشري مرستې او تود تعامل هغه عناصر دي چې د دواړو خواوو تر منځ یې سیاسي او اقتصادي فضا سره نږدې کړې ده او افغانستان هم هندوستان د یوه مهم سیمه‌ییز شریک په توګه ګڼي.

د هېوادونو تر منځ اقتصادي اړخ هم د اړیکو یو مهم او بنسټیز اړخ دی؛ په تېرو څلورو کالونو کې د افغانستان او هند سوداګریز تعامل د زراعتي محصولاتو، غلو، مېوو، درملو او نورو لومړنیو اړتیاوو په تبادله ولاړ دی. هند د چابهار بندر له لارې افغانستان ته یوه ستراتیژیکه سوداګریزه ټرانزیټي لاره برابره کړې ده، چې هم افغان سوداګرو ته د نړیوالو بازارونو دروازې خلاصوي او هم افغانستان ته د یوه بدیل دهلیز اهمیت ورکوي. د هند پرانیستې اقتصادي تګلاره او پراخه سینه د افغانستان د خلکو له تود هرکلي سره مخ شوې ده، ځکه چې هند په پرلەپسې ډول بشري مرستې، لکه غنم، درمل، واکسینونه، د زلزلو په وخت عاجلې مرستې او د روغتیایي وسایلو بکسې راولېږلې، چې دا ټول د خلکو د زړونو په ښه کولو او د اعتماد په جوړولو کې بنسټیز رول لري. هند د ښوونې او روزنې په برخه کې هم د افغان زده‌کوونکو لپاره د انلاین بورسونو او تعلیمي پروګرامونو په وړاندې کولو کې فعاله ونډه اخیستې ده، چې دا د متقابل احترام او ګډ پرمختګ بنسټونه پلي کېږي.

هندوستان ته په ستراتیژیک لید کې افغانستان د هند د سیمه‌ییز توازن، اقتصادي پراختیا او جیوپولیټیکي موخو لپاره یو مهم هېواد دی. هند هڅه کوي د سیمې په معادله کې فعال پاتې شي . له بلې خوا افغان حکومت هڅه کوي له هند سره اقتصادي اړیکې پراخې کړي، د زیربنایي پروژو د بیا پیل زمینه برابره کړي او د سوداګرۍ لپاره اوږدمهاله لارې پرانیزي.



د یادونې وړ ده چې په وروستیو کې د افغان حکومت یو شمېر وزیرانو هندوستان ته کاري سفرونه درلودل چې د هغوی له جملې څخه یو د صنعت او سوداګرۍ وزارت وزیر محترم نورالدین عزیزي و، چې شاغلي عزیزي د افغانستان او هند د تجارتي همکاریو د پراختیا غوښتنه وکړه.

محترم نورالدین عزیزي هند ته د خپل سفر په ترڅ کې د ګډون کوونکو شرکتونو له استازو سره ولیدل او د هغوی د فعالیتونو، محصولاتو او لاسته راوړنو په اړه یې له نږدې معلومات ترلاسه کړل.

د افغانستان د صنایعو او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي هند ته د خپل رسمي سفر پر مهال په نوي دهلي کې له پراګتي میدان نړیوال نندارتون او افغان شرکتونو ځانګړو غرفو څخه لیدنه وکړه. د دې لیدنو په لړ کې افغان سوداګرو له سوداګریزو فرصتونو څخه د رضایت ځرګندولو ترڅنګ د ځینو ننګونو او ستونزو؛ په ځانګړې توګه په بانکدارۍ، ګمرکونو او مقرراتي سکتورونو کې یادونه وکړه او د ډېرو نورو همکاریو او اسانتیاوو رامنځته کولو غوښتونکي شول. د دغو اندېښنو له اورېدو وروسته د صنایعو او سوداګرۍ وزیر دوی ته ډاډ ورکړ، چې راپورته شوې مسلې به له هندي چارواکو سره شریکې او د حل لپاره به یې اړین ګامونه واخلي.

عزیزي د هند د سوداګریزې پراختیا ټولنې له مشرتابه سره چې د دې نندارتون ترسره کوونکې هم ده؛ یوه ځانګړې ناسته تر سره کړه. د دغې لیدنې پر مهال په کابل او نوي ډیلي کې د افغان- هند د ګډو نندارتونونو پر جوړولو، د افغان شرکتونو لپاره غرفو ځانګړې کولو، د افغان سوداګرو لپاره ویزې اسانه کولو او په نړیوالو پروګرامونو کې د افغانستان سوداګریز حضور پر پیاوړتیا ټینګار وشو. دا ډول لیدنې پر سیمه‌ییزه کچه د افغانستان سوداګریز دریځ پیاوړی او له هند سره اقتصادي همکارۍ ته وده ورکوي.

په تېرو څلورو کلونو کې ثابت شوې چې هند غواړي افغانستان یوازې د سیاست له زاویې ونه ګوري، بلکې د خلکو په ملاتړ، اقتصادي همکارۍ او سیمه‌ییزې پراختیا کې د دوامدار ملګري په توګه رول ولوبوي.

په اقتصادي برخه کې اوس مهال د هند بازارونه د افغاني مېوه جاتو او طبي بوټو د خرڅلاو لپاره تر ټولو مناسب بازارونه دي او په سیاسي برخه کې څه موده وړاندې د هند بهرنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي و چې هند په کابل کې خپله ډیپلوماتیکه استازولي د سفارت کچې ته






لوروی.
په اعلامیه کې یادونه شوې وه چې دغه پربکړه له افغانستان سره د دوه اړخیزه همکاریو د پیاوړتیا لپاره د هند ژمنتیا ښکاره کوي. د دې تر څنګ یې ویلي و، چې د هند سفارت به له افغانانو سره د بشري مرستو او ظرفیت جوړونې په برخو کې خپلې همکارۍ پراخې کړي.

هند په وروستیو کلونو کې له افغانستان سره پراخې روغتیايي مرستې کړې دي، چې د درملو، طبي وسایلو، واکسینونو او اړوندو تجهیزاتو رسول پکې شامل دي. هند د درملو په تولید کې د سیمې په کچه مخکښ هېواد دی او د افغانستان د بازار لپاره یې واردات د روغتیايي اړتیاوو پوره کولو او د خلکو د ژوند د کیفیت د لوړولو لپاره حیاتي رول لري. دا درمل د روغتیايي سکتور ملاتړ کوي، په کلینیکونو او روغتونونو کې معیار وراندې کوي او د بېوزلو خلکو لپاره د روغتیايي لګښتونو بار کموي.

هند د یوناني دوا سیستم ته ځانګړی ارزښت ورکوي او په دې برخه کې تعلیمي بنسټونه، کلینیکونه او تولیدي فابریکې لري. د یوناني دوا فلسفه پر دې ولاړه ده چې د بدن او ذهن تر منځ توازن باید وساتل شي او د طبیعي بوټو، معدني موادو او نورو طبیعي توکو له لارې د ناروغۍ درملنه وشي. افغانستان کې ډېری خلک دودیزه درملنه لکه یوناني دوا، بوټي او د بدیل طب طریقې کاروي، ځکه چې دا مېتودونه اقتصادي، فرهنګي او عنعنوي ارزښت لري. هندي پوهنتونونه او کلینیکونه افغان ډاکټرانو او زده‌کړیالانو ته د دې سیستم د زده کړې او ظرفیت جوړونې فرصتونه برابروي، چې د دواړو هېوادونو روغتیايي سکتور پیاوړی کوي.

د هند لخوا د چابهار بندر له لارې افغانستان ته د درملو او روغتیايي توکو لېږد یوه ستراتیژیکه سوداګریزه لاره بلل شوې ده. دا مسیر د سوداګریزو لارو د پراختیا لپاره حیاتي ارزښت لري، د دې تر څنګ افغانستان ته د هندي درملو واردات هم ارزانه او اغېزمن واقع کېږي، خلکو ته روغتیايي لاسرسی اسانه کوي او د افغانستان د روغتیايي بدیل په توګه هم د ډېر لوړ ارزښت لري.

هند په دوامداره توګه افغانستان ته عاجلې روغتیايي مرستې او واکسینونه هم وراندې کوي، چې په ځانګړې ډول د بېوزلو



خلکو، زیانمنو سیمو او بېړنیو وضعیتونو په وخت کې ډېر مهم دي. دغه مرستې د ناروغیو د مخنیوي، د ناروغانو د درملنې او د روغتیايي خدمتونو د لاسرسي لپاره بنسټیز ملاتړ برابروي او د انساني کرامت او بشردوستۍ د اصولو پر بنسټ ترسره کېږي. هند تل د افغان زده‌کوونکو لپاره تعلیمي بورسونه او د ظرفیت جوړونې پروګرامونه وراندې کړي، چې پکې د طب، درمل جوړونې، روغتیايي مدیریت، ژبو، ادبیاتو او نورو اړوندو علومو زده کړې شاملې دي. د هندي پوهنتونونو همکاري افغان زده‌کوونکو ته فرصت ورکوي چې د عصري طب، درمل جوړونې، نړیوالو روغتیايي معیارونو او څېړنو په برخه کې پرمختګ وکړي او د دواړو هېوادونو تر منځ علمي تبادله رامنځته کړي. په سوداګریز اړخ کې هند د افغان مېوه جاتو، زراعتي محصولاتو، غلو، درملو او طبي بوټو لپاره تر ټولو مناسب بازارونه برابروي. سره له دې چې د وارداتو، بانکدارۍ، ګمرکونو او مقرراتي سیستم په برخه کې ځینې ننګونې شته، خو بیا هم د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګریز فرصتونه ډېر دي، چې په کې د درمل جوړولو همکاري، د کیفیت معیارونه، ګډ تولید او د افغان بازار لپاره د اړتیا وړ درملو عرضه شامل دي. دغو سوداګریزو او روغتیايي همکاریو د افغانانو د ژوند کیفیت لوړولو او د دواړو هېوادونو تر منځ د اعتماد او ګډ پرمختګ بنسټونه پیاوړي کړي دي.

په ټوله کې د هند او افغانستان تر منځ سیاسي، اقتصادي، روغتیايي او علمي اړیکې ژورې او متوازنې دي. هند د افغانانو ملاتړ، اقتصادي همکارۍ او ظرفیت جوړونې له لارې دوامداري مرستې کړې دي. د درملو واردات، یوناني دوا، دودیزې درملنې، روغتیايي مرستې، تعلیمي فرصتونه او سوداګریز مسیرونه ټول د دواړو هېوادونو تر منځ د اعتماد، ګډ پرمختګ او سیمه‌ییز ثبات لپاره مهم رول لري.







پټ پنهان مې دا خراب خاطر ورتېږي
او که آه کړم ډېر عالم به وسوځينه
محبت خبرې گرمې تر لمبو دي
کاتبان به يې په کومو گوتو کښوينه
يکباره به قراري له خلقو پاڅي
که د زړه شغله تر ژبې تېره شينه
هغه راز چې په خلوت کښې پوشيده ؤ
په بازار عالم دغه خبرې کړينه
او قسمت يې د هر چا جدا جدا که
لاس وپښې پخپل مقصود پسې وهينه
دا ميرزا په برهانپور کښې ننداره کا
له اصلي وطنه راغی بيا به ځينه

ميرزا خان انصاري

اوس به زه د شپې پر خطرناکو لارو نه درومم
اوس به زه د ورځې په کاواکو لارو نه درومم
اوس هغه ستا زړه جوړونکې مسکا نه وينم
ړنگ يمه زه ړنگ يمه په سترگو چې تا نه وينم
ته لاړې او غم دې په خدای ډېره بربادي وکړه
ته راشه په زړه کې مې له سره آبادي وکړه
توري توتکی راشي خو ستا خبرې نه راوړي
ژاړي راته سپينې د خندا خبرې نه راوړي
چا ويل چې زړه مې په پنجو کې د عقاب کېږده
اوس نو تور پټکي کې مې د صبر سور گلاب کېږده
ته خو په ارام يې خو زه ډېر ډېر نا ارامه يم
وامې خله پرېوتی لکه تور ببری له بامه يم
صبر د پاک رب راته وغواړه چې ژوند وکړم
بيا د خپل زړگي د مات کودي سره پيوند وکړم
گوندې وي چې تا هم په ورمو کې راژوندی کړمه
يا لکه بلبل دې په نغمو کې راژوندی کړمه
صبر کوه ستا د قبر درگې به را لويې شي
زه به يې قلم کړمه نغمې به ترې راتويې شي
بيا به زه ماشوم شم په زانگو کې به جوتې وهم
ستا د الله هو په ازانگو کې به جوتې وهم
ته به راته تولې د رڼا خبرې بيا وکړې
زما په يتيم سر به لکه سيورى د هما وکړې
ستا د دوعاگانو پر زنگون به مې سر ايښی وي
تيغ به مې د صبر د ببلتون پر ځيگر ايښی وي
زه به ستا د خيال او د رويا تر څنگه ناست يمه
داسې به خوشال يم لکه ستا تر څنگه ناست يمه
بيا به زه له سره له ژوندون سره ځواني وکړم
بيا به د گلابو د نرگسو باغواني وکړم

پیرمحمد کاروان



در بند خیالات جهان می‌گذرد عمر
بنگر چه درین عرصه دوان می‌گذرد عمر
هر ره که سپردیم به سنگ ستمی بست
اینست که این گریه کنان می‌گذرد عمر
دل باختنی باش که جز مهر نداند
دریاب که با قافل جان می‌گذرد عمر
در گیر نفس حرف شب و روز ندارد
یکرنگ، چه پیدا په نهان می‌گذرد عمر
با عقربهٔ ساعت گیتی نتوان تاخت
با تندی امواج زمان می‌گذرد عمر
با قافلهٔ رفتهٔ خویشتن قدمی زن
خواهیم نخواهیم همان می‌گذرد عمر
عمر که به یک سجدهٔ اخلاص تمام است
آن سجده بجا کن که چنان می‌گذرد عمر
رافق، سر و سامانهٔ مهرت بهم آور
بشتاب که چون آب روان می‌گذرد عمر

داکتر میرمحمد امین رافق



چون ذره‌ها به مهر درخشان رسیده‌ایم
چون قطره‌ها به بحر خروشان رسیده‌ایم
طی کرده‌ایم وادی پرماجرای تن
از جان گذشته‌ایم و به جانان رسیده‌ایم
چون سبزه‌های تشنهٔ دامان دشت‌ها
سیراب گشته‌ایم به باران رسیده‌ایم
از آفت خزان نهراسیم بعد از ین
در آفتاب گرم بهاران رسیده‌ایم
دل در درون سینهٔ ما رقص می‌کند
در بزم آن غزال غزلخوان رسیده‌ایم
ای آسمان به لغزش مستان ما مگیر
در روزگار تازه به دوران رسیده‌ایم
زنجیرهای وهم سراسر شکسته‌ایم
در دشت بی‌کران گریبان رسیده‌ایم
دریا دلیم و جانب دریا روانه‌ایم
چون موج‌های مست به توفان رسیده‌ایم
در پرتو چراغ نگاه رسای تو
از دیو و دد رمیده به انسان رسیده‌ایم

حیدری وجودی



# از آبدات تاریخی افغانستان حفاظت می‌شود



آبدات تاریخی سرمایۀ ملی یک ملت محسوب می‌گردد و آبدات تاریخی نکات اتصال گذشته، حال و آیندۀ یک ملت به حساب می‌رود. خوش‌بختانه افغانستان آبدات تاریخی زیادی دارد که گواهی می‌دهد افغانستان قدمت تاریخی داشته است. ولایت تاریخی بلخ در شمال کشور موقعیت دارد و آبدات تاریخی زیادی در آن ولایت جا دارد. همچنان در طول تاریخ شهرت جهانی داشته و سالانه سیاحان زیادی را به خود جذب می‌نماید.

مهم‌ترین اثر باستانی که در شهر مزار شریف، ولایت بلخ وجود دارد روضه سخی است که زیارت منسوب به حضرت علی کرم الله وجهه خلیفه چهارم اسلام و از اصحاب جلیل القدر پیامبر بزرگ اسلام می‌باشد. این زیارت که در شهر مزارشریف موقعیت دارد به آن شهر باستانی زیبایی خاصی بخشیده است و هر کسی که به شهر مزارشریف سفر کند به زیارت سخی نیز مشرف می‌شود همچنان مورد توجه سیاحان زیاد داخلی و خارجی قرار دارد.

در برج عقرب سال روان زلزله شدیدی ولایت بلخ و اطراف آن را لرزاند. این زلزله خسارات هنگفت مالی و جانی به جا گذاشت. دست کم جان بیست و نه تن را گرفت و بالغ بر نه صد تن دیگر را مجروح ساخت. خانه‌های مسکونی زیادی را ویران کرد همچنان شاهراه کابل مزارشریف نیز به اثر فرو ریزی خاک در تنگی تاشقرغان برای چند ساعت مسدود گردید در ضمن معماری زیارتگاه حضرت علی رضی الله تعالی عنه آسیب جدی دید و بخش‌هایی از برج‌های آن فرو ریخت.



پس از انتشار تصاویر از تخریب و آسیب‌دیدگی بخشی از بنای تاریخی و فرهنگی روضه سخی، یکی از تاجران ولایت بلخ اعلام کرده که او مسؤولیت بازسازی آن را به عهده می‌گیرد. مدتی بعد از زلزله ترمیم این زیارت آغاز شد تا این آبدۀ تاریخی و بنای معنوی مسلمانان را از تخریب شدن بیشتر نجات دهد. کار بازسازی روضۀ شریف از سوی بنیاد خیریه نبی زاده با هماهنگی وزارت اطلاعات و فرهنگ امارت اسلامی صورت می‌گیرد تا این بنای معنوی و تاریخی را طبق تمام اصول فنی و تاریخی آن به وجه احسن ترمیم نماید. منابع مختلف گفته‌اند که کار ترمیم و بازسازی روضه سخی توسط تیم تخنیکی این بازرگان مطرح افغانستان بررسی و آغاز شده است. وزارت اطلاعات و فرهنگ حکومت امارت اسلامی اعلام کرده است که در مرحله نخست، برج‌ها و بخش‌های که آسیب بیشتر دیده بازسازی خواهند شد، روند بازسازی زیارت روضۀ‌سخی در مزار شریف بر اساس اصل تاریخی و با رعایت اصول تخصصی بازسازی می‌گردد.

این در حالیست که سفارت جمهوری اسلامی ایران در کابل، در مورد زلزله هولناک مزار شریف بیانیۀ نشر کرد که ضمن ابراز همدردی با مردم افغانستان برای بازسازی نماد تاریخی روضۀ شریف اعلام آماده‌گی کرده و افزود که این مکان مقدس، افزون بر جایگاه رفیع معنوی و فرهنگی نزد مردم شریف افغانستان، نمایانگر پیوندهای ژرف تاریخی، دینی و هویتی میان دو ملت مسلمان و برادر ایران و افغانستان است.

پیش از این نیز امارت اسلامی به ترمیم و حفاظت آثار باستانی اقدامات مشابه داشته است از جمله ساخت دیوار اطراف منار تاریخی جام در ولایت غور و قلعۀ تاریخی بالا حصار کابل را می‌توان نام گرفت که بر اثر حوادث طبیعی و جنگها آسیب دیده بودند، در سال‌های واپسین دوباره ترمیم گردیده و یا در حال مرمت کاری می‌باشند.



# خواله رسنۍ او رواني جګړه



رواني جګړه «Psychological Warfare» د مانا له اړخه پېژندل شوې اصطلاح ده چې اوس مهال د ټولنو په سیاسي ادبیاتو کې کارول کېږي. په معاصرې نړۍ کې چې ټکنالوژي په بې‌سارې توګه پرمختګ کړی دی، انسان له یوه داسې واقعیت سره مخ دی چې پخوا یې تصور نه کېده، د خواله رسنیو، معلوماتي ټکنالوژۍ او رواني جګړې ګډ میکانېزمونه دومره ځواکمن شوي چې د ملتونو هویتونه، د فردي شخصیتونو جوړښت، د ټولنو کلتوري اړیکې او د هېوادونو امنیت او ثبات یې تر خپل اغېز لاندې راوستی دی. خواله یا ټولنیزې رسنۍ د نړیوالو سیاسي لوبو، استخباراتي فشارونو، کلتوري استعمار، اقتصادي رقابتونو او فکري تسلط یوه مهمه وسیله ګرځېدلې ده. دا وسیله یوازې هغه وخت بې‌خطره پاتې کېږي چې کاروونکي یې د انتقادي فکر، علمي بصیرت، رسنیز سواد او واقعي پوهې څښتنان وي، د ټولنیزو رسنیو څخه ډېر زیانمن شوي هېوادونه هغه دي چې جګړه، بې‌ثباتي، اقتصادي ستونزې او کمزوری تعلیمي سیستم یا سیاست لري. همدا خلاوې د رواني جګړې، پروپاګند، فکري یرغل او فرهنګي ستونزو لپاره پراخه زمینه برابروي.

د رواني جګړې هدف د یوې ټولنې د خلکو په ذهنونو، احساساتو، باورونو او فکري عقایدو غیرمستقیم برید دی. په دې جګړه کې ټانګونه، الوتکې او میزایل نه کارېږي؛ بلکې د معلوماتو، دروغجنو روایتونو، سمبولونو، ویډیوګانو، جذباتي پیغامونو، جعلي کیسو، تحریف شویو مفاهیمو او شعوري تبلیغاتو له لارې د ذهنونو اغوا کول او بې لارې کولو ته هڅه کېږي. پوهان دې پدیدې ته "soft manipulation" یا "نامحسوس کنټرول" وایي، ځکه چې قرباني ټولنه یا شخص نه پوهېږي چې څنګه یې فکر بدل شو او ولې یې چلند د نورو په ګټه بدل شو چې دغه جګړه پرمخ وړي. ټولنیزې رسنۍ د همدې پروسې د عملي کېدو لپاره تر ټولو مناسبه وسیله ده، ځکه چې د فېسبوک، اېکس، ټیک‌ټاک، انسټاګرام، یوټیوب او نورو شبکو له لارې یو پیغام په ثانیو کې میلیونونو خلکو ته رسېږي او په ځانګړې توګه د خلکو احساسات، جذبه، عکس‌العمل او د پرېکړو د بې ثباتۍ لامل کېږي او د انسانانو منطق او استدلال په لوړه کچه بې‌اختیاره کوي. علمي څېړنې ښيي چې په انسان کې احساس د مغز تر ټولو فعال او تر ټولو کم مقاومت لرونکې برخه ده؛ همدې حقیقت ته په کتو ځینې ډلې، استخباراتي مرکزونه، سیاسي ځواکونه او د فکري استعمار پروژې ډېرې وخت

د احساساتو له لارې ذهن نيسي او سالم عقل له انتخاب بې برخې کوي.

د رواني جګړې لومړی قشر د يوې انتخاب شوې ټولنې ځوانان دي، دا ځکه چې د عمر له نظره دوی لا د شخصيت د بشپړېدو په مرحله کې وي، اقتصادي او ټولنيزې ستونزې يې ډېرې وي، ثبات يې کم او احساسات يې ډېر وي، دا طبقه په ټوله کې د ژوند ډېره برخه په ټولنيزو رسنيو کې تېروي. د پوهانو په اند ډېری وګړي د ټولنيزو رسنيو له لارې د خپلو ګټو په موخه تبليغ کوي، مصنوعي توليد وړاندې کوي، د خلکو تر منځ نفرت خپروي، د قومونو تر منځ حسادت رامنځته کوي، بحثونه يې تر منځ رواجوي، بدبيني پراخوي، د هويت ستونزې جوړوي، د اسلام مبارک دين په تړاو ناسم روايتونه خپروي، د ژبو تر منځ چې په ټوله کې د افهام او تفهيم وسيلې دي هم ورڅخه ناسمه استفاده کوي او د تنفر لپاره ورڅخه د يوې وسيلې په توګه استفاده کوي، د ټولنې د اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري بې نظميو لپاره پروژه وار دندې ترسره کوي تر څو په ياده سيمه يا خلکو کې وېره خپره کړي او دوی په اسانۍ خپلو موخو ته ورسېږي، کله چې موږ د خواله رسنيو د رواني جګړې دا بېلګې وړاندې کوو، نو په پښتو کې هغه مقوله زموږ ذهن ته راځي چې «اوبه خړې کړه او ماهيان ونيسه» د همدې دلايلو لپاره بسنه کوي.

يوشمېر ډلو او سازمانونو په خپله اعتراف کړی دی چې دوی خپلو ګروپونو ته غړي له بېلابېلو سيمو څخه د خواله رسنيو له لارې جلب کړي دي.دغو ګروپونو د جنګياليو روزنې، پلان جوړونې، ايډيالوژيکي ليکچرونو او جلب‌وجذب ډېری پروسه د خواله رسنيو له لارې ترسره کړې ده. دا ډول نامشروع ګروپونو د کورنۍ او ټولنې تر منځ ارزښتونه کمزوري کړي دي. په خواله رسنيو کې هر څوک د خبرو واک لري، خو هر څوک د پوره پوهې خاوند نه وي. د ټولنيزو رسنيو ډېری محتوا د علم، څېړنې يا حقيقت پر بنسټ نه وي، بلکې د بازارموندنې، شخصي ګټو، د نفوذ د مرکزونو د پراخولو يا د يو ځانګړي فرهنګي جريان د ترويج لپاره جوړېږي. د فېسبوک او ټيک‌ټاک ډېری ويډيوګانې د خلکو د فکر د پياوړتيا پر ځای د وخت ضايع، د شخصيت وژنې، د ذهني تمرکز کمزورتيا او د غير واقعي ژوند د تقليد لور ته انسان بيايي. په اوږدمهاله ډول دا عادتونه انسان له هغه حقيقي نړۍ څخه لرې کوي چې پوهه، اند، تحليل، مطالعه، ژورتيا او د ټولنې واقعي اړتياوې په کې ځای لري. کله چې د هنر، اخلاقو، فرهنګ، دين، ادبياتو، تاريخ، پوهنې او فلسفې ارزښتونه له منځه لاړ شي، د فکري استعمار دروازې په خپله پرانيستل کېږي او بيا هېڅ ځواک د بهرني نفوذ مخه نه شي نيولی.

بل مهم ټکی دا دی چې د خواله رسنيو  ترتيب په داسې ډول جوړ شوی دی چې انسان ته هغه څه ډېر ښکاره کوي چې احساساتي غبرګون ورڅخه ترلاسه کوي، دا په دې مانا که د يو کس توجه کومه ويډيو يا متن واخلي نو فکر يې هماغه لور ته بيايي او په اړه يې نور متداوم د هماغه فکر او احساس اړوند منځپانګه پيوسته را اوړي، يعنې که څوک يو ځل بې‌هدفه ويډيو وګوري، بيا ورته په هماغه محتوا لس نورې ويډيوګانې مخته راځي. که څوک منفي سياسي محتوا وګوري، نو په ټولنيزو رسنيو کې شته ترتيبونه ورته دا ډول محتوا څو برابره زياتوي، تر څو انسان په هماغه فکر کې ډوب پاتې شي  او نور هم پکې بوخت اوسېږي؛ په دې ډول تسلسل د خواله رسنيو کارول  د دې لامل ګرځي چې په انسانانو کې د ازاد فکر تصور له منځه لاړ شي او انسان يوازې هغه معلومات ووينې چې ماشين يې ورته ټاکي. دا خپله د فکري استثمار تر ټولو خطرناکه بڼه ده، ځکه چې د استعمار زور ښکاري، خو د فکري استعمار رېښې تل پټې وي او په تدريجي ډول ذهن بدلوي، کله چې د انسان فکر بدل شي وروسته له يو څه مودې څخه داسې فکر کوي چې دا فکر او غوښتنې يې خپل انتخاب دی.

د دې ټولو مقابله د انتقادي فکر، بصيرت، رسنيز سواد، علمي مطالعې، منطقي قضاوت او له حقيقت سره سم د خپلو دندو اجرا کول دي. هغه ملتونه چې د تعليم او رسنيو پر بنسټ قوي وي، د تاريخ، فرهنګ، هويت، ادبياتو، دين، د ملي شعور او خپلو اخلاقو ساتنه کوي، هېڅ ډول پروپاګند يې پر وړاندې مقاومت نه شي کولی، خو هغه ټولنې چې اقتصادي ستونزې، بې‌ثباتي، د زده‌کړو کمزورتيا، نابريالی سياست او د خلکو تر منځ يې فکري واټن وي، هلته د هر ډول نړيوالو فکري پروژو لاره خلاصه وي.

# فضیلت ماه مبارک رمضان

ماه مبارک رمضان فیوضات و برکات زیادی دارد که در آیات کلام الله مجید و احادیث گهر بار رسول الله صل الله علیه و سلم به وفور دیده می‌شود از جمله آیه ۱۸۳ سوره البقره می‌فرماید: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُون) یعنی: ای اهل ایمان! روزه بر شما مقرر و لازم شده، همان گونه که بر پیشینیان شما مقرر و لازم شد، تا پرهیزکار شوید. همچنان در جای دیگری از قرآن کریم می‌فرماید: (شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ) سوره البقره أیه ۱۸۵ یعنی: (این است)ماه رمضان که قرآن در آن نازل شده، و همچنان فضیلت ماه مبارک رمضان در احادیث گهر بار حضرت رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به وفور دیده می‌شود از جمله در صحیح البخاری حدیث شریف شماره ۳۸ می‌فرماید: (مَنْ صَامَ رَمَضَانَ، إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ) یعنی: کسی که از روی ایمان و امید کسب اجر و پاداش، ماه رمضان را روزه بگیرد گناهان گذشته او بخشوده می‌شود و همچنان در صحیح البخاری حدیث شریف شماره ۱۹۰٤ می‌فرماید: (أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللَّهُ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ، إِلَّا الصِّيَامَ، فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ)

تر جمه: از ابوهریره (رضی الله تعالی عنه) روایت است که پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: خداوند عزوجل می‌فرماید: هرگاه کاری که انسان انجام می‌دهد، برای خود او است، مگر روزه که برای من است و من پاداش آن را می‌دهم. همچنان می‌توانیم بگوییم که در تمام کتاب‌های فقه اسلامی اهمیت این ماه مبارک وارد است و مکرراً به آن اشاره شده است که برای همه گان واضح و روشن است. از جمله شیخ سرهندی (رح) نیز در سلسله بیاناتش در رابطه به ماه رمضان می‌فرماید: که حاکی این مطلب هست، در طول همه سال اگر خیری برای شخص می‌رسد به سبب عمل نیکی هست که در ماه مبارک رمضان انجام داده است و اگر شری عائد حال کسی می‌شود باز هم به سبب قصوری هست که شخص در ماه مبارک رمضان مرتکب شده است.

از نگاه طبابت و از لحاظ اجتماع و جهات مختلف فائده‌های زیادی از روزه گرفتن در ماه مبارک رمضان بیان شده است که بخاطر طولانی نشدن مقاله از آنها می‌گذریم. نکته مهم دیگری نیز قابل یاد آوری هست و آن این‌که در سوره مبارکه فوق الذکر بعد از موضوع رمضان المبارک در آیه بعدی یعنی آیه ۱۸٦ سوره البقره در رابطه به دعا می‌فرماید : (وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ).

ترجمه: هنگامی که بنده‌گانم از تو درباره من بپرسند، [بگو:] یقیناً من نزدیکم، دعای دعا کننده را زمانی که مرا بخواند اجابت می کنم.

از همجواری این دو آیه کریمه معلوم می‌شود که در ماه مبارک رمضان دعا و نیایش نیز از جایگاه خاصی برخوردار است که باید زیاد به آن پرداخته شود، زیرا این دعا و نیایش رابطه شخص (بنده) را با خالقش که خداوند متعال جل جلاله هست مستحکم می‌کند، که این استحکام و استمرار رابطه انسان را به کامیابی می‌رساند که بهترین وقت و مؤثر ترین وقت آن (دعا و نیایش) ماه مبارک رمضان می‌باشد، مسلمانان جهان الحمد لله والمنه به ذوق تام به آن می‌پردازند، همچنان تلاوت تحقیق و تدبر در قرآنکریم و قیام الیل هم در این ماه مبارک نسبت به ماه‌های دیگر به مراتب ثواب بیشتری دارد، ختم قرآنکریم در ماه رمضان خصوصاً در نماز تراویح نیز در این ماه با برکت بسیار ثواب دارد. اعتکاف فی المساجد در دهه اخیر این ماه مبارک صیام برکات زیادی دارد که همه این‌ها در کتاب‌های فقهای کرام به وفور مشاهده می‌شود، همچنان در احادیث شریف وارد است که هنگام ورود این ماه مبارک رمضان شیطان‌ها در زنجیر ها بسته می‌شوند، یقیناً طوری‌که همه‌گان می‌بینیم و می‌دانیم که در ماه مبارک







رمضان در سراسر جهان مساجد مملو از نماز خوانان می‌شود حتی علاوه بر ساختمان مساجد در صحن مساجد و حتی در سرک ها و راهرو های جوار مساجد نماز خوانان برای نماز صف می بندند و سخاوتمندان اهل اسلام در این ماه مبارک رمضان نیز نسبت به ماه‌های دیگر دست بازتری می‌داشته باشند. بلی می‌توانیم بگوییم که در ماه رمضان المبارک هر نوع عبادات هم از نماز هم از روزه هم از زکات و صدقات و غیره، برکات و فیوضات بیشتری نسبت به ماه های دیگر دارد، همچنان در این ماه مبارک برای همه مسلمانان، یک نوع رقت قلب و درخشش معنوی پیدا می‌شود. بسیاری از مریضی‌ها شفا می یابند و بسیاری از بیماری‌ها وقایه می‌شوند که در اینجا اشاره کوتاهی به آن شده و جزئیات آنها در کتاب‌های متعدد بیان شده است.

در این ماه مبارک شبی به نام شب قدر نیز وجود دارد که خداوند متعال جل جلاله یک سورۀ کامل را در رابطه به آن(شب قدر) نزول فرموده است، در یکی از آیات سورۀ مبارکه می‌فرماید: (لَیْلَـةُ الْقَـدْرِ خَیْرٌ مِـنْ أَلْـفِ شَـهْرٍ) آیـه سـوم سـوره القدر.

ترجمه: شب قدر، بهتر از هزار ماه است. عبادات و برکات این(یک شب قدر) بهتر است از عبادات و برکات هزار ماهی‌که در آن شب قدر نباشد. روایت است این‌که در مجلس صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم یادی از امم گذشته شده، و در ان مجلس بیان شد که در امت‌های گذشته اشخاصی بودند که هزار ماه خداوند جل جلاله را عبادت می‌کردند و ریاضت می کشیدند، صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اندکی ملول شدند از این جهت که چگونه می‌شود که در قرآن کریم برای امت محمدی خیر امت گفته شده در صورتیکه عبادات و ریاضات بیشتر نصیب امت‌های دیگر باشد؟ آنگاه سورۀ مبارکه نازل گردید، که کاملاً بر پاسخ این سوال مطالب زیبای فرموده شد: (لَیْلَـةُ الْقَـدْرِ خَیْرٌ مِـنْ أَلْـفِ شَـهْرٍ) یعنی: شب قدر، بهتر از هزار ماه است. که درست به سبب نزول این آیۀ کریمه سوالات صحابۀ کرام رضوان الله تعالی علیهم اجمعین حل و نوید فوق العاده زیبائی برای همه امت مسلمه گردید.




جا دارد که اینجا تحقیق خاصی‌که دانشمندان علم ریاضی در این رابطه کرده اند برای تان ارائه نمایم؛ حقیقت مسلم است که قرآنکریم، سورۀ فاتحه، حروف مقطعات، سورۀ القدر و ماه رمضان باهم کاملاً مرتبط هستند. زیرا کتاب الله قرآن، سورۀ فاتحه ام قرآن، رمضان نزول قرآن، شب قدر جشن قرآن، حروف مقطعات رمزهای قرآن هستند، که همه باهم کاملاً رابطه دارند.

اینجا دانشمندان اهل اسلام نیز یک محاسبه ریاضی انجام داده‌اند که کاملاًارتباط آنها را نشان می‌دهد، و (آن تحقیق) از این قرار است! قرآن ۳۰ پاره، کلمات سوره فاتحه ۲۹ کلمه، کلمات سوره القدر ۳۰ کلمه، حروف مقطعات در ۲۹ سوره، اینجاست که، ماه رمضان هم گاهی ۲۹ روز، به عدد کلمات سورۀ فاتحه و مقطعات و گاهی ۳۰ روز به عدد پاره های قرآن و کلمات سورۀ القدر میاید، یقیناً که این محاسبه ریاضی نیز یکی از معجزات قرآنکریم به شمار می‌رود خواننده گان متدین واضح و هویداست این که درک کامل برکات ماه مبارک رمضان بالا تر از افهام بشر است. فلهذا در این مقاله به همین قدر اکتفا می‌کنیم و از الله متعال جل جلاله خواهان توفیق بیشتر در امور کارهای خیر خصوصاً در ماه مبارک رمضان هستیم.

مولوی عبدالغفور رحمانی



# له زلزلې څخه مخکې او وروسته د خونديتوب لارښوونې

زلزله د ځمکې يو ناڅاپي، تېز او ډېر خطرناک حرکت دی چې د ځمکې د تختو د ټکر، ښويېدو او يا يو پر بل د فشار له امله رامنځته کېږي. دا پېښه د الله تعالی د هغو نښو څخه ده چې د انسان له واک او وړاندوينې څخه بهر ده، خو د زلزلې له خطرونو څخه د ځان ساتنې لپاره د انسان پوهه، چمتووالی او سمه کړنلاره له انسانانو سره مرسته کوي چې د تلفاتو کچه راکمه کړي او د ژوندي پاتې کېدو فرصت زيات کړي. په افغانستان کې چې ډېرې سيمې د زلزلې له احتمالي خطرونو څخه ډکې دي، دا موضوع لا مهمه کېږي، ځکه د ودانيو کمزوری جوړښت، د عامه پوهاوي کموالی او د بېړنيو خدمتونو کموالی د دې لامل ګرځي چې کوچنۍ زلزلې هم درانه مالي او ځاني زيانونه واړوي.

تر ډېره مرګ ژوبله اکثره د زلزلې له ټکان څخه نه، بلکې د ودانيو د رالوېدو، د شيشو د ماتېدو، د درنو شيانو د غورځېدو، د پايپونو چاودېدو، د اورلګېدنې او د خلکو د وېرې او تېروتنو له امله رامنځته کېږي؛ ځکه نو د خطر کمولو يوازينۍ لار دا ده چې مخکې له پېښې د ځان، کورنۍ او کور چاپېريال لپاره قوي چمتووالی موجود وي. د کور جوړښت بايد د امکان تر بريده معياري وي، د کورنۍ غړي بايد په دې پوه وي چې د زلزلې پر مهال بايد هر فرد څه وکړي، د کومو کارونو کول خطرناک دي او د ټکانونو په جريان کې بايد څه وکړي. د دې ترڅنګ د بېړنيو خدمتونو شمېرې درلودل، د شاوخوا روغتيايي مرکزونو موقعيت مخکې له مخکې په نظر کې نيول او د لومړنيو مرستو د کڅوړې لرل د هرې کورنۍ لپاره اړين دي.

د بېړني حالت د بکسې « First Aid Kite » په دننه کې بايد داسې توکي وي چې لږ تر لږه درې ورځې د کورنۍ اړتياوې پوره کړي. پاکې اوبه، بسته بندي شوي وچ خوراکونه، درمل، د درد کمونکې ګولۍ، بنداژ، لامده دستمالونه، د جراحۍ دستکشې، عفوني ضد محلول، ټيټ مصرف لرونکي څراغونه، د ماشومانو اړتياوې، قچيانې، چاقو، پټۍ، څادرونه يا اړوندې مهمې توټې چې موسم ته په کتو بايد وساتل شي او د ګرځنده تليفون لپاره د چارج لمريز وسيله، پاوربانک او چارجرونه هغه مواد دي چې شتون يې په سختو حالاتو کې د انسانانو ژوند ژغوري او د مرګ ژوبلې يا زيان کچه راکموي. په ډېرو هېوادونو کې خلک دا کڅوړې په منظمه توګه وخت پر وخت او موسم ته په کتو تازه کوي، ځکه معلومه نه ده چې زلزله به څه وخت پېښېږي.

کله چې د ځمکې ټکان شروع شي يا د زلزلې پر مهال د انسان سمدستي عکس العمل د هغه د خونديتوب هڅه بلل کېږي. د زلزلې ماهرين تل پر دې ټينګار کوي چې د زلزلې پر مهال له خونې، کور يا اپارتمان څخه وتل پکار نه دي که چېرې امکان يې و نو ښه خبره ده او که چېرې د خونديتوب ځای لرې و، نو اړينه ده چې د خوندي کېدو ځای وموندل شي يا له مخکې په نظر کې ونيول شي، يعنې د خپل اطاق يا دفتر داخل کې وګورئ کله چې زلزله رامنځته شوه نو ځان بايد د قوي مېز، تخت، کټ يا بل کلک شي لاندې خوندي کړئ او د سر د ساتنې لپاره خپل لاسونه په خپل سر کېږدئ. که داسې ځای موجود نه وي، خپل سر په لاسونو پټ کړئ او د دېوال څنګ ته کښېنئ، خو د کړکيو، درندو شيانو او هغو ځايونو څخه ځان لرې وساتئ چې د غورځېدو امکان يې زيات وي. هغه کسان چې په بستر کې وي بايد د بالښت په مرسته د سر ساتنه وکړي او بې له ضرورته د اطاق منځ ته لاړ نه شي.





بهرنۍ چاپېریال هم خپل جلا خطرونه لري؛ د ودانیو، د برښنا ستنو، د دیوالونو، شنو ونو او د تبلیغاتي لوحو نړېدې کېدای شي مرګوني پایلې ولري او یا انسان شدید زخمي کړي. که بهر یاست، ځان یوه پرانیستي ځای ته ورسوئ چې له دېوالونو او لوحو لرې وي تر څو که چېرې دیوال نړېږي یا لوحې کښته را غورځېږي نو تاسو ورڅخه خوندي اوسئ. که په موټر کې یاست، په خوندي فاصله کې یې ودروئ او تر هغه حرکت مه ورکوئ تر څو ټکانونه درېدلي نه وي، د پلونو او لوړو سړکونو لاندې تم کېدل په هېڅ صورت خوندي نه دي.

تر اصلي زلزلې وروسته ممکن داسې ټکانونه راشي چې په ځینو مواردو کې لا سخت وي. دا وروسته ټکانونه د زیانمنو شویو ودانیو د نړېدو لامل کېدای شي. ځکه نو د ټکانونو له ختمېدو وروسته د کور دننه او بهر وضعیت په دقت وڅېړئ. د اورلګېدنې خطر ارزونه وکړئ، د ګاز نلونه، د برېښنا سویچونه او د اوبو پایپونه وګورئ. که کوم درزونه، ماتېدو یا لیکېدو نښې ښکاري، له هغه ځایه ووځئ او له مسلکي وګړو مرسته وغواړئ. له شمعو او بل هر سوځېدونکي توکي څخه لرې اوسئ، ځکه یوه کوچنۍ تېروتنه د لوی ناورین سبب کېدای شي.











ددې ټولو تر څنګ د خلکو رواني چمتووالی هم ډېر مهم دی. ډېری کسان د زلزلې پر مهال د وېرې له کبله غلطې پرېکړې کوي. ژوره ساه اخیستل ، خپل احساسات او وېره کنټرولول، له کورنۍ سره لنډه اړیکه ساتل، په ارامه غږ خبرې کول او د موجودو لارښوونو تعقیبول د حالت د مدیریت تر ټولو غوره لارې دي.

وروسته له زلزلې د ټپي کسانو د موندلو او مرستې لپاره باید د ځایي ژغورونکو ټیمونو سره همکاري وشي. د سیمې خلکو ته د بې ځایه کېدو په صورت کې ګډ مرستندویه ځایونه او د پاکو اوبو سرچینو ته په سالم ډول لاسرسی وشي.

هغه څوک چې د زلزلې په اړه ځانګړې پوښتنې لري یا د شخصي حالت او ژوند مطابق مشورې ته اړتیا لري، کولای شي د بېړنیو مرستو له سیمه‌ییزو ادارو یا له هغو سازمانونو سره اړیکه ونیسي چې د خلکو د پوهاوي لپاره کار کوي.

زلزله یوه داسې پېښه ده چې مخنیوی یې ناشونی، خو د خطر کمول یې ممکن دي. ټولنه چې څومره چمتو وي، هغومره کمو زیانونو سره مخ کېږي. د کورنۍ، ګاونډیو، ښوونځیو او کارځایونو پوهاوی زموږ د ټولو وجیبه ده. د زلزلې لپاره چمتووالی کومه الزامي یا جبري کړنلاره نه ده بلکې د نړۍ د خلکو د ژوند یو فرهنګ دی چې هره شېبه د انسانانو د خوندیتوب ضمانت کوي.





# اهمیت تخم‌های اصلاح‌شده در زراعت

زراعت در افغانستان نه تنها یک پیشه، بلکه ستون فقرات اقتصاد کشور است. بررسی‌ها نشان می‌دهد که حدود هشتاد درصد مردم افغانستان به کشت و زراعت مصروف‌اند و مواد اولیه زندگی‌شان را از همین راه به دست می‌آورند. خوراک، پوشاک و بخش بزرگی از مصارف روزمره انسان‌ها از زراعت تأمین می‌شود. زراعت دو بخش اساسی دارد: کشت و کار و دامداری. دامداری نیز بر پایه زراعت نباتات استوار است؛ اگر کشت نباشد، مالداری نیز دوام نخواهد داشت و زندگی انسان‌ها با خطر مواجه می‌شود. به همین دلیل، انسان‌ها از صدها سال پیش با زراعت آشنا بوده و مواد خوراکی خود را از این طریق فراهم کرده‌اند.

در افغانستان که صنعت چندان فعال نیست، اقتصاد مردم و کشور بیش‌تر بر زراعت و مالداری استوار می‌باشد. در حالی‌که در جهان زراعت به شیوه‌های مدرن پیش می‌رود، در افغانستان هنوز بیشتر به شکل سنتی ادامه دارد. این وضعیت نیازمند تغییرات جدی است، زیرا زراعت مدرن می‌تواند حاصلات را چندین برابر افزایش دهد. استفاده از امکانات موجود در کشور نیز می‌تواند زمینه‌ساز تحول چشم‌گیر در این بخش باشد.

یکی از ابزارهای مهم در زراعت مدرن، استفاده از تخم‌های اصلاح‌شده است. این تخم‌ها در برابر آفات زراعتی، تغییرات آب‌وهوایی و کمبود آب مقاومت بیش‌تری دارند و کیفیت محصولات را نیز بهبود می‌بخشد. در افغانستان، وزارت زراعت مالداری و آبیاری و نهادهای مربوطه تخم‌های اصلاح‌شده و نهال‌های مناسب را تولید و عرضه می‌کنند. با توجه به تفاوت‌های اقلیمی در مناطق مختلف کشور، آموزش دهقانان در زمینه انتخاب و استفاده از تخم‌های مناسب اهمیت فراوان دارد.

کاربرد کودهای کیمیاوی برای رشد بهتر نباتات ضروری است، زیرا زمین به‌تنهایی مواد مورد نیاز را تأمین نمی‌کند. همچنان استفاده از ماشین‌آلات مدرن توانسته در جهان انقلاب بزرگی در زراعت ایجاد کند. دهقانی که به‌تنهایی توان کشت ده جریب زمین را دارد، با ماشین‌آلات می‌تواند ده‌ها جریب زمین را کشت کند و حاصلات بیشتری به دست آورد.

در سال‌های اخیر، افغانستان با کمبود آب مواجه بوده است. سیستم آبیاری قطره‌یی می‌تواند دهقانان را در مدیریت آب کمک کند؛ با مصرف آب کم، زمین‌های بیشتری آبیاری می‌شود و حاصلات افزایش می‌یابد. هرچند این روش هنوز به‌طور گسترده رایج نشده، اما نمونه‌های موفق آن نشان داده که تأثیر چشم‌گیری بر اقتصاد کشاورزان دارد.

باغداری بخش مهمی از زراعت است. هنگام غرس نهال و احداث باغ، باید انواع اصلاح‌شده و مناسب با آب‌وهوای منطقه انتخاب شود. اگر نهال نامناسب غرس گردد، زحمت چندین ساله باغداران به هدر می‌رود و خسارات مالی سنگینی به‌بار می‌آورد. مشوره با کارشناسان زراعت و استفاده از رهنمودهای وزارت زراعت می‌تواند در این زمینه راهگشا باشد.

در بخش مالداری نیز انتخاب نسل‌های اصلاح‌شده دام اهمیت دارد. این نسل‌ها از سوی وزارت زراعت و نهادهای همکار توصیه می‌شوند و می‌توانند تولید گوشت و لبنیات را افزایش دهند. توجه به مواد غذایی دام و استخدام افراد مسلکی برای مدیریت فارم‌ها، نتایج بهتری در پی خواهد داشت.

بازار فروش محصولات زراعتی نقش مهمی در تشویق دهقانان دارد. ایجاد سردخانه‌های معیاری برای نگهداری محصولات، علاوه بر جلوگیری از تلف شدن حاصلات، به اشتغال‌زایی، صادرات و خودکفایی کشور کمک می‌کند.

استفاده از تخم‌های اصلاح‌شده، کودهای کیمیاوی، ماشین‌آلات مدرن، سیستم آبیاری قطره‌یی، ایجاد سردخانه‌ها و ادویه‌های زراعتی نه تنها باعث افزایش تولید و کیفیت محصولات می‌شود، بلکه نقش مهمی در امنیت غذایی، رشد اقتصادی و توسعه پایدار افغانستان دارد. با مدیریت درست و آموزش دهقانان، این ابزارها می‌توانند آینده‌ای روشن برای زراعت کشور رقم بزنند.



# د انسانانو تر منځ نزاکتونه

موږ تل وایوو چې انسان یو ټولنیز موجود دی او پرته له ټولنې ژوند نه شي کولی؛ د ژوند د هرې برخې لپاره اړ دی چې د نورو خلکو سره اړیکې جوړې کړي او د متقابل احترام او درناوي فضا رامنځته کړي. د کورنۍ په چاپېریال کې زده شوي نزاکتونه د انسان د شخصیت لومړی اساس جوړوي، خو کله چې یو فرد له کورنۍ بهر په ټولنه کې فعالیت کوي، د ښو اخلاقو، مهربانۍ او ادب مراعت کول ورته اړین دي. د انسانانو تر منځ نزاکتونه یوازې د ښو خبرو کولو یا نرمۍ په مانا نه ده، بلکې د شخصیت، باور، رښتینولۍ، د نورو د احساساتو احترام، د ټولنیز ژوند اصولو رعایت او د مثبتو اړیکو جوړولو یوه پراخه اوږده پروسه ده.

تر ټولو لومړی ځای چې انسان باید پکې بانزاکته اوسي هغه کورنۍ ده، ځکه دا د انسان د شخصیت جوړولو لومړی چاپېریال دی او تر څنگ یې ټوله کورنۍ یو له بل څخه په نامستقیمه بڼه زده کړه کوي، اولادونه او ماشومان هم هماغه عادتونه او نزاکتونه د ژوند برخه گرځوي چې مور او پلار یا د کورنۍ نور غړي یې په ورځني ډول ترسره کوي. هغه ارزښتونه چې دلته زده کېږي، ټول عمر د فرد د ټولنیزو اړیکو پر چلند اغېزه لري. د کورنۍ په چاپېریال کې هر انسان باید د مور او پلار «والدینو» او مشرانو درناوی او احترام وکړي، والدین د انسان د روزنې لومړني ښوونکي دي. د هغوی خبرې په غور اورېدل، د مشورو او لارښوونو احترام کول که چېرې ناسمې هم وي، د کورنۍ د اړیکو د ښېگڼې لپاره حیاتي ارزښت لري. د دې تر څنگ د کورنۍ د نورو غړو سره نرم چلند لکه د وروڼو، خویندو، ماشومانو او نورو غړو سره په مهربانۍ، صبر او نرمۍ چلند د کورني ژوند ارامتیا او همغږي لوړوي. په کورني چاپیریال کې تر ټولو مهمه دا ده چې رښتینولي او صادقانه چلند وشي، د کورنۍ غړو ته دروغ ونه ویل شي، وعدې ماتې نه کړل شي او د مسوولیت احساس تل ژوندی وساتل شي چې دا ټول د باور او احترام فضا رامنځته کوي. لکه څنگه چې هر ځای خپل قوانین او قواعد لري همداسې په کورنۍ کې د گډو چارو په ترسره کولو کې باید د کور قوانین مراعت شي، د کور په کارونو کې مرسته وشي او د نورو غړو وخت او اړتیاوو ته پوره احترام وشي، د بېلگې په توگه که یو ځوان د کورنۍ یوې چارې د ترسره کولو وعده وکړي، باید هغه پوره کړي، ځکه دا عمل د باور فضا جوړوي او د کورنۍ غړي د کارونو او همغږۍ په ترسره کولو کې انگېزه اخلي.

له کورنۍ وروسته د انسان د پرمختگ او ژوند ځای ټولنه ده، هر انسان په ټولنه کې باید د نورو خلکو د شخصیت، نظریاتو او حقوقو احترام وکړي. په ټولنه کې له خلکو سره د خبرو مودب طرز، د نورو خبرو ته غوږ نیول، نورو خلکو او ملگرو ته د خپل ځان په څېر نه کتل او د هغوی نظرونو ته احترام کولی شي متقابل اعتماد او ښې اړیکې رامنځته کړي. که چېرې د کوم کس جامې زړې وي یا یې څېره منظمه نه وي، شتمن یا غریب وي باید په هر حالت کې یې د شخصیت احترام او له سپکاوي یې ډډه وشي، د هغوی عقایدو، دودونو او نظریاتو ته احترام وکړئ او په خپلو خبرو کې یې له توهین څخه ډډه وکړئ، ځکه بې احترامي کول کوم ویاړ نه دی او نه تاسو پرې شتمن کېږئ بلکې ستاسو رویه ستاسو د شخصیت ښودنه کوي، که چېرې ستاسو بې احترامۍ ته چا په نرمه او خندا ځواب درکړ داسې مه گڼئ چې تاسو ډېر هوښیار یاست بلکې په دې پوه شئ چې تاسو له هغه کس سره ملگرتیا او اړیکه له لاسه ورکړه او هېڅکله به یې زړه کې ځای ونه لرئ. د ټولنیزو اړیکو په جوړولو کې له دروغ، منفي فکر څخه ډډه کول، د کړیو ژمنو عملي کول او صادقانه چلند د انسانانو تر منځ د باور او خوښۍ فضا جوړوي. په ټولنه کې بل مهم نزاکت په ټلیفون یا میسج کې ارامې خبرې کول، د نورو خلکو وخت ته درناوی کول، له دوه ځلې زیات زنگ وهلو څخه ډډه کول او د پیغامونو په ځواب کې اعتدال ساتل اړین دي، د بېلگې په ډول که څوک له تاسو مرسته غواړي، لومړی د هغه ټولې خبرې په غور واورئ او یوازې هغه وخت عمل وکړئ چې ستاسو توان وي، که ستاسو توان نه رسېده نو په مودبانه توگه ځواب ورکړئ او کوښښ وکړئ چې هغه شخص ته په اړونده برخه کې لارښوونه وکړئ تر څو خپل کارونه په سم ډول ترسره او له تاسو منندوی اوسېږي. یو له بل سره مرسته او همکاري کول ستاسو شخصیت ته وده ورکوي، ملگري مو ډېروي او اړیکې مو پراخوي، د دې تر څنگ چې تاسو شخصي گټې ورڅخه ترلاسه کوئ تاسو په ټولنه کې د مرستې او همغږۍ فرهنگ هم غوړوئ، دا په دې مانا چې د اړتیا په وخت کې له اړوند کس سره مرسته کول سبا یا بله ورځ د بل کس مرستندوی گرځي او په تدریجي ډول ټولنه پرمختگ کوي. درېیم مهم نزاکت د چاپېریال دی چې چاپېریال له ټولنې لرې یا هغه ځای دی چې له انسان سره مل وي، که هغه د کور چاپیریال وي که د خونې، که بېرون د سړک، ورزش ځای او یا د مکتب یا پوهنتون، خو هر ځای چې انسان پکې د ژوند چارې مخکې وړي د چاپیریال په نوم یادېږي. په کاري چاپېریال کې کارکوونکي د گډو موخو لپاره دندې ترسره کوي، چې دا د اړیکو تضمین پیاوړی کوي او د کار کیفیت هم لوړوي.

له همکارانو او مشرانو سره مودبانه چلند کول، د نورو نظرونو او فکرونو ته غوږ نیول، د ستونزو په حل کې یو له بل سره همکاري کول او د هر کارکوونکي شخصیت ته احترام درلودل، کاري وخت ته پابند اوسېدل، د کارونو پر وخت ترسره کول، د شخړو مخنیوی کول او په سختو حالتونو کې له نرمۍ، مهربانۍ او منطق څخه گټه اخیستل باید د انسان ځانگړنې وي، د بېلگې په ډول که ستاسو همکار ستاسو نظر نه مني، نو تاسو باید په ارامه او ادبي ډول خپل نظر بیان کړئ او د متقابل نظر ته هم درناوی وکړئ، تر څو اړیکې مو خرابې نه شي. په عامه ځایونو یا ناپېژندو خلکو سره اړیکو کې هم باید انساني وقار وساتل شي. په بازار، ترانسپورت یا ښوونځي کې د هغه ځای قوانین په نظر کې ساتل ډېر مهم دي. د خلکو شخصي حریم ته درناوی وشي، د نورو ځای، مال او ناموس ته باید احترام وشي او هېڅکله د چا حقوق تر پښو لاندې نه شي. په بازار، سړک او گڼهگوڼه کې دا طبیعي ده چې هر ډول خلکو سره مخ کېدلی شئ چې د هغوی چلند به ستاسو له توقع په بشپړ ډول خلاف وي، که چېرې چا ناسم چلند کاوه نو هڅه وکړئ په نرمۍ او مهربانۍ سره ځواب ورکړئ. له مخدره توکو کارولو یا لېږدولو څخه ډډه وکړئ، په لوړ غږ ونه غږېږئ او بل کس ته مزاحم نه اوسېږئ، د کورونو په مخه یا لارو کې موټر یا موټرسایکل کرار بوځئ او د دې لامل نه شي چې اوسېدونکو ته ذهني ناارامي ورکړي. په لارو کې د خوراکي څیزونو پاکټونه یا تېرې ونه غورځوئ، بلکې تر خپل توانه کوښښ وکړئ چې په هر څه منظم ترتیب کړئ او سولهاییز ژوند ولرئ.

نزاکت او ښه سلوک د انسان د شخصیت، د ټولنې د سوکالۍ او د اړیکو د ښه والي لپاره حیاتي ارزښت لري. کله چې انسان له کورنۍ پیل تر ټولنې پورې د نورو په وړاندې په ادب، مهربانۍ، صداقت او نېک چلند مخ شي، نو شخصیت یې لوړېږي او د ټولنې په هره برخه کې مثبت بدلون رامنځته کوي. د نزاکت مراعت کول د باور فضا جوړوي، د شخړو مخه نیسي او د متقابل درناوي فرهنگ خپروي. هر انسان باید هڅه وکړي چې د ښو اخلاقو، ادب او نزاکت اصول په ورځني ژوند کې عملي کړي، ځکه دا د یوه غوره، سالمې او پرمختللې ټولنې د جوړېدو اساس دی. د پایلې په توگه ویلی شو چې که چېرته د خلکو نظرونو سره مخ کېدئ نو په انتقادي او مودبانه ډول ځواب ورکړئ، د نورو د خبرو په جریان کې ځان مه غورځوئ، د هر ډول تاوتریخوالي، سپکاوي او فزیکي شخړې څخه ډډه وکړئ، د ناسمو او توهیني کلیمو له کارولو ځان وژغورئ، د ملگرو، والدینو، کورنۍ او ناپېژندو تر منځ د باور فضا رامنځته کړئ او خپلو ټولو کړنو او عملونو ته متوجې اوسېږئ او له ځان سره تحلیل وکړئ چې ایا زما دا کار یا دا ډول خبرې مقابل لوري ته په گټه یا زیان تمامېږي او په همدې ډول کوښښ وکړئ د مودبو او ښو انسانانو سره ناسته ولاړه ولرئ چې دا ستاسو په ژوند مستقیمه اغېزه لري.



# اهمیت ادبیات کودک



کودکان بخش بزرگی از جامعۀ انسانی اند که هیچگاه جامعه‌یی بدون کودک دوام نمیاورد. چون کودکان امروز جوانان و بزرگان فردا و پس فردا اند آیندۀ جامعه متعلق به کودکان امروز است. بناً تربیت درست کودکان جامعه را متحول می‌سازد از اینرو تربیت کودکان از اهمیت بسیار بلند برخوردار می‌باشد. این‌که ادبیات در تربیت و پرورش کودکان با اهمیت است به این اساس ادبیات کودک نیز مورد توجه انسان‌ها قرار دارد و حایز اهمیت بلند بوده که نویسندگان زیادی در افغانستان و جهان در این عرصه قلم می‌زنند و آثار می‌نویسند.

در این بحث در نخست با دو واژه روبه رو می‌شویم که یکی کودک و دومی ادبیات می‌باشد نخست باید این واژه‌ها را شناخت؛ کودک تا چند سده قبل در تمام جهان به تمام انسان‌های گفته می‌شد که دامن مادر را رها نکرده و خودش نمی‌توانست راه برود، همین که انسان می‌توانست به حدی بزرگ شود تا دامن مادر را رها کند دیگر کودک محسوب نمی‌شد و توقع جامعه نیز از آن چنین بود تا مثل سایر بزرگان زندگی نماید که در افغانستان هنوز هم این گونه پنداشت و جود دارد اما در زمان معاصر این تعریف تغییر کرده و کودک به انسان خرد سالی گفته می‌شود که به بلوغ نرسیده و در حال رشد جسمی، فکری و اجتماعی است، در بسیاری از جوامع تمام افراد زیر سن هژده سال کودک محسوب می‌گردد.





واژه دوم ادبیات است، تمام آثار منظوم و منثور که احساسات را بر می انگیزد، ارزش هنری دارد و ذوق هنری انسان را سیرآب می‌نماید ادبیات گفته می‌شود. حالا بر می‌گردیم به ترکیب (ادبیات کودک) باید بدانیم که این ترکیب چه معنی دارد ادبیات کودک و ادبیات برای کودک دو برداشت متفاوت این ترکیب است در نخست ادبیات کودک آن دسته ادبیات است که توسط کودکان هنگام بازی‌های کودکانه به وجود آمده باشد و دومی ادبیات برای کودک است، به این برداشت آن دسته از آثار ادبی را احتوا می‌کند که توسط کارشناسان ادبیات برای مطالعه کودکان خلق شده باشد.

در این بحث منظور از ادبیات کودک دستۀ دوم می‌باشد ادبیات کودک با ادبیات بزرگان تفاوت خاصی ندارد و به ادبیات گفته می‌شود که به وسیلۀ نویسنده‌گان و متخصصین برای مطالعه آزاد کودکان تهیه می‌شود و در همۀ آنها ذوق و سطح رشد کودکان مورد توجه است.

در افغانستان سطح کتاب خوانی بسیار پایین است برخی خانواده‌ها و اشخاص که کتاب می‌خوانند به کودکان شان زیاد توجه ندارند اما عدۀ خانواده‌ها وجود دارند که در این عرصه نیز فعال‌اند و به کودکان شان کتاب خریداری می‌کنند تا آنان مطالعه کنند اما کتاب‌های ادبی برای کودکان برای سنین مختلف آنان در بازارهای افغانستان در یافت نمی‌شود یا هم خوب است بگویم که به اندازۀ کافی نمی‌باشد.

در کشور ما، هرچند در زمینۀ ادبیات کودک کارهایی صورت گرفته است، اما هنوز نیاز به تلاش‌های بیشتر و گسترده‌تر احساس می‌شود. چون در بازار کتاب‌ها به اندازۀ کافی برای اطفال دریافت نمی‌شود که به زبان‌های ملی، مطابق دستور و عنعنات کشور باشد تا کودکان کشور به زبان مادری خویش ادبیات را مطالعه کنند. کتاب‌های کمی دریافت می‌شود که کودکان



داستان، شعر و ترانه آن را بخوانند و علایق خود را در آن دریابند، بناً در این عرصه به کار بیشتر نیاز است تا برای کودکان کشور آثار خلق گردد که برای آینده و تربیت ذهنی شان مفید واقع گردد.

کودک امروز جوان فردا است و تربیت کودک جامعه را اصلاح و سالم می‌سازد. ادبیات کودک آیندۀ کودک را مشخص می‌کند تا چگونه آدم باربیاید کودکان معمولاً در چند سال اول زندگی همه سخنان والدین را درست و دقیق می‌پندارند در آن زمان فیصدی تاثیر سخنان والدین بر فرزندان بسیار بلند است و کودکان را می‌توانند فکراً تربیت نمایند. در این دورۀ در جامعۀ اسلامی افغانستان معمولاً به کودکان بحثهای عقیدوی آموزش داده می‌شود. چه بهتر است که درس‌های عقیدوی علاوه بر کتاب‌های مشخص به گونۀ شعر و ترانه به آنان آموزش داده شود چون کودک به آسانی می‌تواند شعر و ترانه و سایر فورم‌های ادبی را بیاموزد و حتی زود فراموش نکند تا در بخش عقیدوی درست تربیت شود.

در بخش دیگر برای کودک برخورد با جامعه مهم می‌باشد تا با والدین، سایر اعضای خانواده، کودکان و همسالان که با آنان روزانه ارتباط دارد چگونه برخورد نماید اگر در این بخش برای کودکان داستان‌های کوتاه با الفاظ ساده که برای کودکان قابل فهم باشد روایت گردد یا هم برنامه‌های تلویزیونی و رادیویی را در این پیوند تماشا نمایند مطمیناً که تاثیر مثبت خواهد داشت و از آن تقلید کرده، در ارتباطات یومیه طبق آن عمل می‌نمایند. ضمن اینکه کودکان با ادبیات کودک پیام‌های را دریافته و آن را در عمل پیاده خواهند کرد با سواد، خواندن، نوشتن، کتاب و مطالعه نیز آشنا می‌گردند. این خود بخش مهمی زندگی سالم است. کودکی که کتاب می‌خواند و با مطالعه آشنا است، بنای تعلیمی و تربیتی آن اساساً بنیاد گذاری شده باشد تا حد زیاد آینده روشن برایش رقم خورده است، فکر و ذهن آن بازتر می‌باشد، خوب و بد زندگی را به آسانی و بهتر از دیگران درک می‌کند، در تعیین مسیر زندگی خویش نیز موفق خواهد بود.

ادبیاتی که شعوری و سیستماتیک برای کودکان خلق می‌شود، باید سن کودک در نظر گرفته شود. به هر اندازۀ که سن کودک بالا می‌رود، به همان تناسب آثار ادبی آن نیز ارتقا یابد. در هر حوزۀ ادبی، ادبیات فولکلوری وجود دارد که به‌صورت سنتی و اغلب گفتاری می‌باشد. این نوع محتوای ادبی هرچند مفید است، اما کافی نیست؛ زیرا گاهی پیام‌های آن ضعیف است و در برخی موارد برای سنین مختلف کودکان مناسب نمی‌باشد. به‌طور کلی، ادبیات فولکلوریک به‌تنهایی قادر نیست عطش ادبی کودکان را فروبنشاند. بنابراین، در این زمینه نیاز به کار حرفوی توسط متخصصین ادبیات کودک وجود دارد تا مطابق با نورم‌های علم روان‌شناسی، آثار برای کودکان خلق شود. این کار می‌تواند خلأ موجود را پُر کرده و نیاز به استفاده از کتاب‌های خارجی را کاهش دهد.

ادبیات کودک در تربیت کودک نقش کلیدی دارد و فردای جامعه را کودک امروز رهبری می‌کند بنا بر آن در این عرصه به سطح کشور و خانواده‌ها به طور ویژه به برنامه ریزی نیاز دارد و این بخش می‌تواند جامعه و شیوۀ زندگی را به صورت چشم‌گیر تغییر دهد همچنان در قدم نخست به آثار ضرورت است که علایق کودکان در آن بازتاب یافته باشد در قدم بعدی تربیت کودکان مستلزم آن است که به طور منظم از سوی خانواده‌ها و مراکز تعلیمی این آثار ادبی به آنان آموزش داده شود. وقتی که کودک به سطح خواندن و نوشتن می‌رسد، طبق سنین آنان باید آثار ادبی در اختیار آنان قرار گیرد تا گاه ناگاه آن را مطالعه کنند و عطش ادبی کودکان سیرآب گردد.

مطالعۀ ادبیات توسط کودکان اهمیت زیاد دارد اما به طور خلاصه ما می‌توانیم بخش‌های مهم آنرا برجسته بسازیم، اهمیت دادن به ادبیات کودک اهمیت دادن به یک آینده روشن می‌باشد زیرا ادبیات اساس تحولات فکری، اجتماعی و علمی آینده سازان جامعه می‌باشد به این اساس ادبیات کودک نیروی کنجکاوی کودک در تجارب نوین را پرورش می‌دهد. به آموزش زبان و فصاحت کلام آنان کمک می‌کند. در خواندن و نوشتن ماهر می‌گردد. توانایی اندیشدن کودکان با مطالعۀ ادبیات شگوفا شده و به گونۀ غیر مستقیم با محیط و زندگی آشنایی دریافت می‌کنند همچنان اخلاق کودکان رهنمایی شده، ارتقاء میابد. همکاری صادقانه و برخورد با دیگران را یاد می‌گیرند. ادبیات کودک یک نوع اعتماد به نفس در کودکان ایجاد می‌کند. با کتاب خوانی عادت می‌شوند و ظرفیت آموزش آنان ارتقا میابد.

در پایان بحث می‌توانیم بگوییم که ادبیات کودک در پرورش جامعه نقش اساسی دارد اما در این عرصه به اندازۀ کافی کار صورت نگرفته است بناً دانشمندان، نهادهای اکادمیک، مسؤولین نهادهای تعلیم و تربیۀ کودکان باید به این نکته هر چه بیشتر توجه کرده آثار خلق نمایند تا نبود آثار ادبیات کودک در بازار محسوس نشده و در تدریس آن برای کودکان توجه خاص نمایند تا در آینده کودکان جامعه به وجه احسن مطابق افکار اسلامی و ارزش‌های والای جامعه تربیت گردند و نبود آثار ادبیات کودک در بازار محسوس نشده، در نهایت جامعه اصلاح گردد و دانش جمعی ارتقاء یابد.






# د غزني لرغوني منارونه

له لرغونو وختونو راهيسې انسانانو د خپلو عقايدو، برياوو او تمدني ځواک د ښودلو لپاره لوړې ودانۍ او منارونه جوړول. منارونه يوازې د معمارۍ عادي جوړښتونه نه دي، بلکې د سياسي واک، ديني نفوذ، کلتوري هويت، امپراتورۍ، کاميابۍ او يا د يوه تاريخي پيغام څرګندونه کوي. د پېړيو په لړ کې منارونه د ښارونو د پېژندنې، د لمانځه د اذان ځايونو، د برياوو يادګارونه يا ځلي او د واکمنانو د نومونو د تلپاتې کولو وسيلې بلل شوي دي.



افغانستان د اسلامي تمدن له مهمو مرکزونو څخه پاتې شوی دی او په ولايتونو کې يې د بېلابېلو دورو د معمارۍ ارزښتناکې بېلګې شته چې د غزني منارونه يې يوه مهمه برخه جوړوي. د غزني ښار د غزنوي امپراتورۍ پلازمېنه وه او د علم، ادب، سياست او هنر مهم مرکز ګڼل کېده. د همدې سياسي او فرهنګي ارزښت له امله غزنوي واکمنانو هڅه کوله چې داسې تاريخي ودانۍ جوړې کړي چې هم د ديني عقيدې ځلي پاتې شي او هم د هغوی د واکمنۍ ځواک او تلپاتې حضور راتلونکو نسلونو ته په ميراث پرېږدي.

د غزني منارونه هم د همدې اړتياوو او تاريخي شرايطو په رڼا کې جوړ شوي دي. دغه منارونه د اسلامي معمارۍ د ښکلا تر څنګ د غزنوي دورې د انجينرۍ مهارت، هنري ذوق او تمدني ځواک څرګندوي. د غزني منارونه د افغانستان د تاريخي حافظې يوه مهمه برخه ده او د هېواد د کلتوري هويت د ساتنې په برخه کې يې مهم رول ادا کړی دی. غزني ښار د افغانستان د تاريخي او کلتوري ميراث زېرځای دی، چې د اسلامي دورې د معمارۍ ښکلې بېلګې يې تر نن ورځې په خپله سينه کې ساتلي دي. د غزني منارونه له ځانګړو ختو جوړ دي او د اسلامي معماري د ښکلي هنر څرګندونه کوي. دا منارونه د غزني ښار شمال ختيځ لور ته ۶۰۰ متره واټن کې موقعيت لري.

د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت تل هڅه کړې چې تاريخي ځايونه خوندي وساتي او له نړېدو يې مخنيوی وکړي چې په لړ کې يې د غزني منارونه هم هېر کړي نه دي او هڅه کوي ترڅو دا تاريخي ځايونه د سيلانيانو لپاره خوندي، جوړ او ښکلي وساتي. د غزني ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست د ګرځندوی عمومي مدير مزمل هوتک په وينا د غزنويانو دوره په منځنۍ اسيا کې يوه لرغونې او مخکښه دوره تېره شوې ده، د غزنويانو د امپراتورۍ په دوران کې له سلطان محمود غزنوي څخه را پدېخوا د هغه ځايناستو چې د دې امپراتورۍ د دوام غړي وو، په ځينې نومونو باندې يې يو يو منار جوړ کړ چې له هغوی څخه لومړی منار د درېيم سلطان مسعود دی چې شاوخوا ۹۱۰ کاله تاريخي قدامت او دوه‌ويشت متره لوړوالی لري، په جوړښت کې يې له ګچ، چينې، خښتو او په ځينو ځايونو کې يې له لرګيو هم ګټه اخيستل شوې ده، دا منار لومړی تاريخي منار دی او څو کلونه وروسته بل دويم منار چې د سلطان بهرام شاه په نوم يادېږي جوړ شوی دی، چې ۲۵ متره لوړوالی لري. له دې منارونو څخه يو يې د غزني روضې ته څېرمه او بل يې د غزني بالاحصار تر څنګ موقعيت لري. دا دوه منارونه د لرغونو ارزښتناکو اثارو په توګه د يونسکو له نړيوال سازمان سره هم ثبت دي.

بدبختانه د دغو ښکلو منارونو ډېره برخه د وخت د جګړو او زلزلو له امله زيانمنې شوې دي او کمې برخې يې پاتې دي، خو لا هم د افغانستان د تاريخي او اسلامي هنر ارزښتناکه نښه ګڼل کېږي. د معلوماتو له مخې دغه دوه لرغوني منارونه په لومړي وخت کې ۵۲ متره لوړوالی درلود، چې د نړېدو له ګواښ سره مخ وو، بيا وروسته يې د ساتنې او بيارغونې په خاطر لوړوالی کم شو تر څو ونه نړېږي او خوندي پاتې شي.

دا تاريخي منارونه چې په خښتو اباد شوي دي په نړۍ کې يې سارى ډېر کم موندل کېږي او په افغانستان کې يې د غور د جام منار او په هرات کې د ګوهرشادبيګم په هدايت جوړ شوي منارونه يې د بېلګو په توګه يادولی شو.

د غزني لرغوني منارونه د افغانستان د وياړلي تمدن، اسلامي هنر او معمارۍ ژوندي اثار ګڼل کېږي. دا منارونه د جګړو، طبيعي پېښو او له وخت تېرېدو سره سره دومره زيانمن شوي نه دي، خو لا هم د هېواد د تاريخي حافظې مهمه برخه جوړوي او د تېر عظمت کيسې راتلونکو نسلونو ته بيانوي.

د غزني منارونه دا را يادوي چې يو ملت څنګه کولی شي خپل کلتور، هويت او تاريخي شتمني د معمارۍ له لارې تلپاتې کړي يا خپل تاريخ راتلونکو نسلونو ته په ميراث پرېږدي چې دوی په کومه کچه ژوند کړی دی او له دې منارونو څخه يې موخه اوسنيو يا راتلونکو نسلونو ته څه وه. د دې منارونو ساتنه د دولت تر څنګ د ټولنې، فرهنګي بنسټونو او هر افغان ګډ مسووليت دی،تر څو دا ملي ميراث خوندي وساتي. که چېرې دغو تاريخي ځايونو ته جدي پاملرنه وشي، نو افغانستان به د کلتوري هويت له مخې پياوړی هېواد وي، د دې تر څنګ به د ګرځندويانو، اقتصادي ودې او د نړيوال تاريخ يا فرهنګ پېژندنې په برخه کې به ځېړونکو ته فرصتونه او اسانتياوې رامنځته کړي. د غزني منارونه د افغانستان د تاريخ وياړلی باب دی چې ساتنه يې د راتلونکي لپاره تاريخي اړتيا ده.

# احترام متقابل در جامعهٔ اسلامی

در جوامع انسانی همه با هم دیگر در ارتباط بوده و داد و ستد داشته باشند تا زندگی روزمره خویش را به پیش ببرند. چون انسان یک موجود اجتماعی است و نمی‌تواند به تنهایی زندگی نماید بناً یک انسان به انسان دیگر محتاج است، در جهان امروزی میزان این ارتباطات و داد و ستد میان انسان‌ها بالا رفته و تمام جهان به گونهٔ یک روستا هر وقت در ارتباط‌اند. این ارتباطات وقتی مفید واقع می‌شود که حسن نیت و خیر هم دیگر هدف طرفین ارتباطات باشد، زمانی که احترام متقابل در ارتباطات موجود باشد طرفین با هم خشنود خواهند بود. اگر به سطح جامعه احترام متقابل را در نظر داشته باشیم تمام جامعه در رفاه، آرامش و خشنودی به سر خواهند برد و از جنگ، خشونت و درگیری میان انسان‌ها جلوگیری می‌شود، این موضوع به آبادی زمین و رفاه انسان‌ها می‌انجامد.

ما مسلمان‌ها از نگاه دینی نیز ملکفیم که به اطرافیان خویش احترام بگذاریم تا مورد احترام دیگران قرار داشته باشیم همچنان مولانا در این مورد می‌گوید:

این جهان کوه است و فعل ما ندا
سوی ما آید نداها را صدا
فعل تو کان زاید از جان و تنت
همچو فرزندی بگیرد دامنت
پس تو را هر غم که پیش آید ز درد
بر کسی تهمت منه، بر خویش گرد
فعل تست این غصه های دم به دم
این بود معنای قَد جَفَّ القَلَم!

یعنی هر عمل عکس العمل دارد، چه در طبیعت و چه در جوامع انسانی. مولانا در بیت فوق نیز می‌گوید هر که خوبی کند خوبی می‌بیند هر که بدی کند بدی می‌بیند، اگر احترام کنی احترام می‌شوی اگر احترام نکنی احترامی نخواهی شد.

این شعر به ما می‌آموزد که در زندگی، هر چه بکاریم، همان را درو می‌کنیم. اعمال ما، چه خوب و چه بد، مانند بذرهایی هستند که می‌کاریم و میوه‌های آن را در آینده برداشت خواهیم کرد. وقتی با مشکلات و رنج‌ها روبرو می‌شویم، نباید دیگران یا سرنوشت را مقصر بدانیم، بلکه باید به درون خود نگاه کنیم و مسئولیت اعمال خود را بپذیریم. سرنوشت ما، در واقع مجموعه‌ای از نتایج و پیامدهای اعمال خودمان است.

همچنان مقوله‌یی داریم که می‌گوید احترام احترام می‌آورد.

در ادامه می‌توانیم دلیل‌های زیادی از نصوص شرعی بیاوریم که ما را به احترام هم دیگر ترغیب می‌کند. در قرآن کریم و سنت پیامبر اسلام صلی الله علیه و سلم، احترام به دیگران، چه مسلمان و چه غیرمسلمان، یکی از ارزش‌های کلیدی شمرده می‌شود. خداوند در قرآنکریم می‌فرماید:

«وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ» (سوره اسراء، آیه ۷۰)

ترجمه: ما فرزندان آدم را کرامت بخشیدیم.

این آیهٔ کریمه نشان می‌دهد که انسان به خودی خود دارای کرامت ذاتی است و باید مورد احترام قرار گیرد. بنا بر حکم این آیه، همهٔ ما بنی آدم را احترام نمائیم چون خداوند جل جلاله ما مسلمانان را به احترام انسان امر فرموده است.



پیامبر اکرم صلی الله علیه و سلم نیز در احادیث متعدد به رعایت حرمت مؤمنان توصیه کرده‌اند از جمله می‌فرمایند:

«المُسلِمُ مَن سَلِمَ المُسلِمونَ مِن لِسانِهِ وَيَدِهِ»

ترجمه: مسلمان کسی است که مردم از زبان و دست او در امان باشند.

این حدیث مبارک پیامبر بزرگ اسلام صلی الله علیه و سلم بیان می‌دارد که احترام باید در عمل نیز پیاده شود بنا بر این پیامبر صلی الله علیه و سلم ارشاد فرمود تا مسلمان به کسی آسیب نرساند و همچنان به زبان به کسی حرف آزرده کننده نگوید.

احترام در خانواده نیز از نگاه اسلامی ضروری است که ستون خانواده را مستحکم می‌سازد، محبت بار می‌آورد و جامعه را به سوی سعادت رهنمایی می‌کند. الله متعال نیز می‌فرماید که به پدر و مادر تان نیکی کنید از سوی دیگر، والدین نیز باید با مهربانی و احترام با فرزندان رفتار کنند.

در صحیح بخاری، حدیث شماره ۵۹۹۷ در مورد مهربانی بر فرزندان، پیامبر بزرگ اسلام ارشاد می فرماید:

قال رسول الله ﷺ«مَن لا يَرحَم لا يُرحَم»

ترجمه: کسی که رحم نکند، مورد رحمت قرار نمی‌گیرد.

این حدیث در پاسخ به مردی بیان شده که گفت: «من هیچ‌گاه فرزندم را نبوسیده‌ام.» پیامبر صلی الله علیه و سلم با این جمله او را نکوهش کرد و نشان داد که محبت به فرزند، نشانه ایمان و رحمت الهی است.

دین مبین اسلام بر مساوات انسان‌ها و عدم تفاخر قومی، نژادی یا طبقاتی تأکید می‌کند. در خطبه حجة‌الوداع، پیامبر اکرم صلی الله علیه و سلم فرمودند: «ای مردم! همه‌ی شما از آدم هستید و آدم از خاک. هیچ عربی بر عجمی برتری ندارد، و عجمی بر عربی مگر به تقوا». این سخن پایه‌های احترام متقابل را بر اساس تقوا و انسانیت قرار می‌دهد، نه بر اساس رنگ، نژاد، زبان یا ثروت.

به اساس دلایل فوق از قران کریم و احادیث پیامبر صلی الله علیه و سلم همه مسلمانان مکلف‌اند تا در زندگی روزمره در دفتر کار، دکان، موتر شهری، مکتب، آموزشگاه و همهٔ جامعه، با مراجعین اداره و تمام اطرافیان خود که با آنان در اتباط اند احترام بگذارند، با نرمی و ملایمت برخورد نمایند، در مقابل چنین برخورد با مسلمان خواهد شد همچنان خداوند (ج) نیز از آنان راضی می‌شود، در نتیجه زندگی نیز برای آنان قشنگ می‌شود و هم به اطرافیان شان.

احترام متقابل در جامعه، باعث نابودی جنگ و خشونت می‌شود، همبستگی و اعتماد اجتماعی را افزایش می‌دهد. وقتی افراد یک جامعه به هم احترام می‌گذارند، همکاری و همزیستی مسالمت‌آمیز شکل می‌گیرد. این امر به ایجاد عدالت اجتماعی، وحدت ملی و توسعه فرهنگی و اقتصادی منجر می‌شود.

در جمع بندی می‌توانیم بگوییم که احترام متقابل وجیبهٔ دینی، اجتماعی و انسانی ما است. چون هر عمل به نیت وابسته است بهتر است برای خشنودی الله متعال به مردم احترام بگذاریم، تا در مقابل در دنیا از سوی مردم مورد احترام قرار بگیریم و در آخرت پاداش نزد الله متعال جل جلاله داشته باشیم.

# د پښتو ولسي ادبیات ولې غني دي؟

پښتو ولسي ادبیات د پښتني ژوند د نسلونو نسلونو په اوږدو کې د احساس، فکر، تاریخ او کلتور هغه خزانه ده چې د وخت په تېرېدو کمزوري شوي نه دي او نه یې هم بنه بدله شوې ده، بلکې تل له نویو نسلونو سره ژوندي پاتې کېږي. د پښتو ولسي ادب د غني والي بنسټ په دې ټکي کې دی چې دا ادب د کتابي، رسمي او مصنوعي ژبې پر ځای د خلکو د ورځني ژوند او د دوی د غوښتنو د بیان ژبه ده؛ هغه ژبه چې د ژوند د خوښیو، غمونو، مینې، جګړو، سفرونو، ودونو، دردونو، جرګو، مېړانې او عزت ټولې رنګینې تجربې په خپل ساده خو پیاوړي جوړښت کې رانغاړي.

لنډۍ چې د پښتني احساس تر ټولو پخوانۍ او ادبي بڼه ده، د دې ادب د غني‌والي ښکاره بېلګې دي. په څو ټکو کې د یوه ژوند بشپړ انځور، د یوې مینې درد او د یوې ړنګې هیلې یا ارمان روښانه تصویر وړاندې کوي. د بېلګې په توګه دا مشهوره لنډۍ چې وایي:

**یو ځلې بیا په دې لار راشه**
**په پخوانو پلونو دې پرېوتل ګردونه**

په دومره کوچنیو کلمو کې د مینې ځواک، د جذب احساس او د شاعرې د ژوند موقعیت داسې بیان شوی چې لوړه ادبي ښکلا لري او د یوې ټولنې د خلکو د زړونو او احساساتو درد پکې نغښتی دی. دا لنډۍ د ښځو یا مېندو د احساساتو، د مسافر زوی یا خاوند د مهاجرت او لرې والي غبرګ او د یو ټولنیز محدود چاپېریال هنري بغاوت دی.

د پښتو ژبې متلونه هم د ولسي ادب بله ستنه جوړوي چې د تېرو نسلونو د تجربو پایله ده. دوی به د ژوند هر حالت کې یو متل کاراوه. متلونه د ټولنیز شعور یو فلسفي بیان هم دی. لکه چې وایي: «د مار بچی مار وي» چې د دویم ځل باور یا د ذات د خرابوالي په وخت کې یې یو بل ته کاروي یا د نصیحت، پاملرنې یا احتیاط لپاره کاروي، یا ډېر عام او په ورځنیو خبرو کې تکرارېدونکی متل دی چې وایي: «ګټه په تاوان کېږي» چې مطلب یې دا دی که تاسو د ګټې په لټه یاست نو یو څه به له لاسه هم ورکوئ، که چېرې زده کړې کوئ باید وخت ولګوئ، زحمت وباسئ، که چېرې د هر څه د ترلاسه کولو کوښښ کوئ لومړی باید یو څه له لاسه ورکړئ، د بېلګې په ډول که چېرې یو تجارت پیلوئ تاسو لومړی اړ یاست چې پیسې ولګوئ چې په ټولیزه مانا ورته د یو څه له لاسه ورکولو ته ویل کېږي خو وروسته له وخت د پیسو له پانګونې یا فزیکي ستړیا ګاللو تاسو ته خپله بدله درکول کېږي، مطلب یې دا دی چې پرته له زحمت او زیار هېڅ هم په اسانۍ نه ترلاسه کېږي، همدې ته ورته نور سلګونه متلونه د پښتنو ټولنیز ارزښت د شخصیت او وقار پخوانۍ تجربې ثابتوي.



د پښتو ولسي ادب بله ځانګړنه دا ده چې د تاریخي پېښو د لېږد منبع ده. د جګړو، کوچېدو، ویرونو، اتلولیو او بدلونونو نښې په ولسي سندرو او فولکلوریکو فورمونو کې خوندي پاتې دي. کله چې یوه انا د خپل زوی لپاره د جګړې د ورتګ په وخت کې په کلي کې د ویر غږونه کوي، نو دا یوازې یو غمجن غږ نه وي، بلکې د یوه ملت د تاریخي دردونو ژوندي یادونه وي. د پښتو ولسي ادب څکه غني دی چې د ژبې سوچهوالی په کې خوندي پاتې دی. د ولسي ټکو، لهجو، طنزونو او شفاهي بیان ځانګړې ښکلا یې د رسمي او لیکلي ادب څخه په بشپړه توګه جلا ده. د پښتنو د انساني صفتونو لکه صادقه زړونه درلودل، د خپلې خاورې او خپل ناموس څخه په میړانې دفاع، د مینې ښکلا بیانول او یا شرم احساس کول، د جرګو خبرې او د سولې نرم غږونه ټول په ولسي ادب کې په زړه پورې هنري رنګ لري. د پښتو ژبې منظومو او منثورو ادبیاتو ته همدې ولسي ادبیاتو وزن ورکړی دی.

د ولسي ادب بله مهمه ځانګړنه دا ده چې د زمان او مکان بندیزونه نه پېژني. که یوه لنډۍ د سلګونو کلونو وړاندې یوې بې وسه مور ویلي وي، هماغه لنډۍ نن هم د یوې مور د زړه ژبه ده. د وخت غوښتنې بدلېږي، خو د ولسي ادب پیغام تل تازه پاتې کېږي، څکه نو ادب د یو قوم ګډه رواني حافظه جوړوي.پښتو ولسي ادبیات ارزښت لري او د یوه ملت د پېژندنې سند هم بلل کېږي. که څوک غواړي د پښتنو د کلتور روح درک کړي، باید د دوی لنډۍ واوري، د دوی متلونه زده کړي، همدارنګه پښتو بیتونه، فولکلوري کیسې، د اتلولۍ کیسې «حماسي روایتونه»، نکلونه، بدلې، رباعي، افساني، ټوکې، معماوې، دوديز شعرونه، رسومي ویناوې، دعاګانې، نفرینونه او ولسي رواجونه ولولي یا احساس کړي څکه چې ښکلا، درد، مینه، میړانه او تاریخ په دې خزانه کې داسې سره ګډ شوي دي چې هر اوربدونکی یا لوستونکی ورڅخه اغېزمنېږي.

دا چې د پښتو ولسي ادبیات ولې غني دي لاملونه یې ډېر دي خو د بېلګې په ډول ویلی شو چې پښتانه د تاریخ په اوږدو کې له زده‌کړو لرې پاتې شوي دي، ډېرې بدې او ناوړینې ورځې یې تېرې کړي دي، ډېر دردونه یې لیدلي، بې وسي او بې کسي پرې تېره شوې ده، نږدې خپلوان او ملګري یې له لاسه ورکړي دي، مېندې بورې او مېرمنې یې کونډې شوې دي، په جګړو کې یې ونډه اخیستې ده، د ژوند په دوام کې له بېلابېلو لورو او ژورو سره مخ شوي دي او ډېرې تجربې یې په عیني ډول ترلاسه کړي دي، همدا ستونزې د دې لامل شوې چې په پښتنو نارینه او ښځینه وو کې احساس را پیدا شي او هغه دومره ژور شي چې نور په زړه کې د ځایدو کابو نه وي، نو پر ژبه یې د زمزمې په ډول او شعري فورم کې ظاهر شوي دي او هغه بیا سینه په سینه له یو نسل څخه بل نسل ته لېږدول شوي او دا لړۍ یې روانه ده.

د پښتو ولسي ادبیاتو د منځپانګې په شننه کې ویلی شو چې په ډېرو کې یې درد او غم پروت دی، یوه مور د خپل ورک شوي یا په جګړه کې د وژل شوي زوی فراق ژړوي، یو پلار د خپل ناسم دود له جبران فریاد کوي او یو ځوان د خپلو ټولنیزو رواجونو له پیوست دوران نارې کوي او دا ټول غږونه چې کله سره یو ځای شي یو خوند ترې جوړېږي چې په اوربدلو یې هر انسان ځان په هغه کې ویني، همدا لامل دی چې په خوند کې مشترک درد پروت او هغه د وخت په تېرېدو د هغې ژبې د ادبیاتو مهمه برخه ګرځي.







# د روژې روغتیايي ګټې



روژه د اسلام مبارک دین څلورم رکن؛ د انسان د روح او بدن د پاکوالي وسیله او د عبادت لوړه مرتبه ده. مسلمانان د روژې یا رمضان په میاشت کې له سهاره تر لمر لوېدو پورې د خوړو، څښاک او ځینو نورو عملونو څخه ځان ساتي، خو دا عمل یوازې د خوراک او څښاک کول نه دي او نه روژه د یوې میاشتې لپاره له اوبو، خوړو او جماع څخه ځان ساتنه ده، بلکې له نورو مسلمانانو سره په خپل چلند کې بدلون راوستل، خپل تفکر سمول او په صبر، استقامت او نورو اخلاقي فضایلو کې د نفس روزنه هم ده. همدا لامل دی چې روژه د انسان جسمي، رواني او ټولنیزه روغتیا ښه کوي او د انسان په شخصیت کې مثبت بدلون رامنځته کوي، نو هغه ذات چې د انسان بدن او روان او د هغه چاپېریال او خواړه یې پیدا کړي دي، له شک پرته په دې هم ښه پوهېږي چې د انسان لپاره څه شی ګټور او څه شی زیان رسوونکي دي، لکه څنګه چې د انسان د هوساینې لپاره نور موجودات پیدا شوي دي تر څو سوکاله او ارامه ژوند ولري او له نعمتونو یې خوند واخلي او د الله تعالی شکر ادا کړي.



د روژې په اړه قرآن کریم په صراحت سره لارښوونه کړې:

ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی، روژه پر تاسو فرض شوې ده، لکه څنګه چې له تاسو وړاندې قومونو باندې فرض شوې وه، ترڅو پرهېزګاره شئ. (البقرة، ۱۸۳)

نو د نفس له پاکوالي سره سره روژه د انسان بدن ته طبیعي فرصت ورکوي چې له نوي انرژۍ ډک شي، زړې حجرې پاکې کړي، دننني سیستمونه بیا تنظیم کړي او یو ډول ارامښت، تمرکز او معنوي توازن تجربه کړي. په دې وروستیو کلونو کې د نړۍ د معتبرو روغتیايي بنسټونو او پوهنتونونو څېړنو په دې ټینګار کړی چې روژه د بدن ډېرو برخو لکه د وینې شکر، وزن، د زړه روغتیا، د معافیت سیستم، هورموني توازن او د انسان رواني هوساینې ته د پام وړ ګټه رسوي.

روژه د بدن د انرژۍ د مصرف طبیعي میکانیزم بدلوي. کله چې یو انسان د څو ساعتونو لپاره خواړه نه خوري، بدن اړ کېږي چې د انرژۍ د ترلاسه کولو لپاره خپل زېرمه شوي غوړ وکاروي، هغه غوړ چې د وزن د زیاتوالي او د زړه د ناروغیو له عواملو څخه ګڼل کېږي. په همدې اساس ګڼې څېړنې ښیي چې روژه د وزن په کنټرول، د بدن په جوړښت، د ملا د کمر په شاوخوا کې د غوړو په کموالي او د بدن د عمومي میتابولیزم په ښه کېدو کې مهم رول لري. کله چې بدن په دوامداره ډول د غوړو ویلې کېدو حالت ته داخل شي، د وینې شکر ټیټېږي، د انسولین حساسیت ښه کېږي او د کولیسټرول کچه راکښته کېږي. دا بدلونونه د وزن کمېدو لپاره ګټور دي او ترڅنګ یې د زړه د حملې، لوړ فشار او د شوګر یا شکرې ناروغۍ د خطر په کمولو کې هم مرسته کوي.

د روژې پر مهال په بدن کې یو بل حیرانوونکی عمل هم فعالیږي چې «اتوفیجي» بلل کېږي؛ دا هغه وخت دی چې بدن زړې، خرابې او بې‌ګټې حجرې له منځه وړي او په ځای یې نوي سالمې حجرې جوړوي. پوهان دې حالت ته د بدن د ځان پاکولو طبیعي سیستم وایي او باور لري چې دا عمل د زړښت د نښو په کمولو، د ځیګر د غوړوالي په ښه کولو، د معافیت سیستم په پیاوړتیا او د سرطان د ځینو ابتدایي خطرونو په کمولو کې اغېز لري.



روژه یوازې فزیکي اغېز نه لري بلکې د انسان په رواني او روحاني ژوند کې هم ژور بدلونونه رامنځته کوي. د روژې پر مهال د خوراک محدودیت، لمونځ، د قرآن کریم تلاوت او له ناوړو کارونو یا خبرو څخه ځان ساتل، د ذهن تمرکز او د زړه د سکون کچه لوړوي. د بېلابېلو هېوادونو په څېړنو کې ښودل شوې چې روژه د اضطراب، فشار او خپګان کچه راکموي او انسان ته یو ډول رضایت او د ارامۍ احساس ورکوي.

الحمدالله روژه د مسلمانانو د یووالي، همدردۍ او مهربانۍ میاشت ده، چې ټول په ګډه لمونځونه کوي، الله تعالی ته خپل سر ټیټوي، یو بل سره د تېر په پرتله ډېر نېک او غوره چلند کوي، زکات ورکوي، صدقه کوي، تر نیمو شپو د الله تعالی عبادت او تراویح کوي چې دا ټول د دې لامل ګرځي چې د انسان زړه او ذهن نرم کړي او د انسان د فزیکي روغتیا تر څنګ یې ذهني روغتیا هم ورغېږي.

د معمول په څېر ځینې کسان چې کمزوري دي او یا روغتیایي ستونزې لري لکه د شکرې ناروغان، د زړه ناروغان، امیدواره ښځې او یا هغه څوک چې ځانګړي درمل کاروي باید د روژې له نیولو څخه مخکې د خپل ډاکټر سره مشوره وکړي، ځکه په ځینو حالاتو کې ممکن د بدن د اړتیا سره سم د خوراکي



پلان، اوبو څښلو او درملو وخت بدلولو ته اړتیا پیدا شي، ځکه په ځینو ناروغو او یا د ډېر عمر لرونکو کسانو بدن کمزوری وي او نه شي کولی ډېر وخت لوږه یا تنده تجربه کړي نو اړینه ده چې له روژې نیولو مخکې او پر مهال یې هر کله چې ناسم احساس کاوه یا یې ناروغي وربانديې ډېرېدله باید ډاکټر ته مراجعه او د هغه په لارښوونو عمل وکړي، ځکه  بدن د ورځې په جریان کې کافي اوبو یا مایعاتو ته اړتیا لري او که یو څوک په پیشمني او روژه ماتي کې کافي اوبه ونه څښي ممکن د ورځې له لوري ستړیا، سرخوږی یا د وینې د فشار له بدلون سره مخ شي، خو له لارښوونو سره سم او متوازن خوراک کولی شي دا ستونزې په اسانۍ کنټرول کړي.

په پای کې ویلی شوو چې روژه په اصل کې د انسان لپاره ټولیزه تجربه ده، دا په دې مانا چې د انسان بدن، روح، فکر او احساسات ټول په مثبت ډول اغېزمنوي او هم د روژې په نیولو سره د اسلام مبارک دین درېیم رکن ادا کېږي، چې په دې سره مسلمانان هم دنیاوي او هم اخروي ثوابونه ترلاسه کوي. بې له شکه چې د الهي قانون په هره برخه کې د انسان لپاره د ښېګڼې او سمې لارې د دعوت څراغ روښانه دی.



# اعمار لاین دوم شاهراه کابل- غزنی

شاهراه کابل-کندهار یکی از مهمترین جاده‌های ترانزیتی افغانستان است که بیش‌ترین ازدحام ترافیکی را دارد این سرک کابل را با بیشتر از نیمی از ولایات افغانستان وصل می‌کند و صادرات و واردات زیاد کشور از این جاده می‌گذرد.

به دلایل گونا گون حادثات ترافیکی نیز در این جاده زیادتر رخ می‌دهد یکی از دلایل مهمی که منجر به حادثات ترافیکی می‌شود ازدحام بیش از حد وسایط نقلیه در این مسیر می‌باشد. این شاهراه مهم افغانستان که سال‌ها قبل قیر ریزی شده بود، در سال‌های بعد به شدت تخریب شده و تامدت سال‌های زیادی ترمیم نگردید، که شهروندان را با مشکلات زیاد مواجه ساخته بود و انتقال اموال تجارتی نیز در وقت زیاد و بهای بلند به منزل می‌رسید.

بعد از روی کار آمدن حکومت امارت اسلامی که در کشور امنیت سراسری حاکم گردید و کشور بعد از دیر زمانی سیر شگوفایی را آغاز کرد، شاهراه‌های کشور مورد توجه حکومت امارت اسلامی قرار گرفت و جاده‌های زیادی ترمیم و بازسازی گردید، از جمله کار بازسازی شاهراه کابل کندهار را نیز آغاز کرد و بعد از مدتی تکمیل نمود.

بنا بر اهمیت اقتصادی و ضرورت این جاده، کار اعمار لاین دوم شاهراه کابل غزنی نیز آغاز شد که حالا بیش از سی و دو کیلو متر آن اعمار و قیر ریزی گردیده و کار آن به سرعت جریان دارد به شمول چهار پایه پل بزرگ، بیش از سه صد پل، پلچک و دیوار استنادی در این شاهراه وجود دارد که طبق اصول انجنیری و معیارهای بین المللی اعمار می‌شود.

در ماه جدی سال روان از جملهٔ آن یک پل بزرگ در ساحهٔ کمپنی شهر کابل به بهره برداری سپرده شد که این پل در امتداد سرک دوم کابل-غزنی می‌باشد و هر دو لاین سرک، فعلا پل‌های مستقل دارد و از راه بندان در این ساحه جلوگیری می‌کند.

برای دسترسی به این مستند QRکود را سکن نمائید.

این پل حدود شصت میلیون افغانی هزینه برداشته است و در مدت نه ماه اعمار گردید. این پل پنجاه و شش متر طول دارد و سیزده و نیم متر عرض که دو نیم متر آن پیاده‌رو است و متباقی موتر رو می‌باشد.

سرک کابل-غزنی از پل کمپنی شهر کابل آغاز می‌شود و با عبور از مرکز و ولسوالی‌های نرخ و سیدآباد ولایت میدان وردک به شهر غزنی منتهی می‌شود. سرک کابل-غزنی در مجموع حدود یک صد ویازده کیلو متر طول دارد، این پروژه به پنج بخش تقسیم گردیده است. بخش اول و دوم آن از پل کمپنی شهر کابل الی سیاه سنگهای میدان وردک و از آنجا الی دشت توپ در ولسوالی سیدآباد امتداد دارد. طول این دو بخش چهلونه کیلو متر می‌باشد که کار اعمار و قیر ریزی بخش اول آن حدود دوازده کیلومتر تکمیل گردیده و بقیهٔ آن نیز در چهار ماه اول سال آینده تکمیل می‌شود.

بخش سوم این پروژه از دشت توپ آغاز می‌شود و بیست کیلومتر طول دارد که تا مرکز ولسوالی سیدآباد می‌رسد، بخش چهارم این پروژه از مرکز ولسوالی سیدآباد آغاز می‌شود و تا منطقهٔ هفت آسیاب آن ولسوالی می‌رسد، بخش پنجم آن از منطقهٔ هفت آسیاب آغاز تا شهر غزنی امتداد میابد. کار این پروژه از سوی وزارت محترم فواید عامه با سکتور خصوصی قرارداد شده که جهت تطبیق بهتر طرح و مشخصات پروژهٔ متذکره از سوی آن وزارت به طور مداوم نظارت می‌گردد.

همچنان لاین دوم این سرک بیست کیلومتر از سوی شهر غزنی به طرف کابل نیز قیر ریزی گردیده و در آینده تصمیم وجود دارد که این سرک تا کندهار امتداد یابد. اعمار این شاهراه نوید خوبی برای تمام هموطنان است چون که گامی دیگری به سوی عمران و آبادی کشور برداشته می‌شود.

کار اعمار لاین دوم سرک کابل- غزنی که در برج سنبلهٔ سال ۱۴۰۳ هجری خورشیدی افتتاح شده بود فعلا در کل حدود شصت و پنج در صد کار این پروژه پیش رفته است، کار آن با سرعت به پیش می‌رود، تلاش مسؤولین بر آن است تا هرچه زودتر به پایهٔ اکمال برسد و به بهره برداری سپرده شود.

با تکمیل شدن این پروژه قسمت زیاد شاهراه کابل- کندهار (از کابل الی غزنی) دوسرکه می‌شود و تردد از این مسیر را آسان می‌سازد، همچنان در جلوگیری از حادثات ترافیکی نقش ارزندهٔ دارد. مردم برای این پروژه بسیار خوش‌بین‌اند و می‌خواهند که پروژه‌های مشابه هر چه بیشتر راه‌اندازی شود تا کشور شگوفا گردد.

مصارف این پروژه از بودجه داخلی تمویل می‌گردد. مالیاتی که در شاهراه کابل-کندهار از وسایط نقلیه اخذ می‌گردد جمع آوری شده، دوباره در بازسازی و اعمار این شاهراه به مصرف می‌رسد.

قابل یاد آورِی است که به بخش مستندات رادیو تلویزیون ملی افغانستان از کار اعمار این پروژه فلم مستند ساخته است که در مورد شاهراه کابل- کندهار و چگونگی جریان کار آن معلومات مفصل ارائه می‌کند، این فلم در رسانه‌های اجتماعی رادیو تلویزیون ملی افغانستان قابل دسترس می‌باشد.







شین سهار دی د مارغانو چغ چغار دی

د خواږه سږي سلام زما پکار دی

پیر محمد کاروان

خطاط: ثاقب کاکړ




آنرا که حلال زادگی عادت و خوست

عیب همه مردمان به چشمش نیکوست

معیوب همه عیب کسان می‌نگرد

از کوزه همان برون تراود که دروست

ابو سعید ابوالخیر

خطاط: محمد اسماعیل رستمی

# افغانستان، محوریت اقتصادی منطقه

افغانستان در چند دهۀ گذشته بحران‌های سخت اقتصادی را تجربه کرده که با بسته شدن یک بندر تجارتی در شهرهای کشور، مردم با مشکلات زیاد اقتصادی روبرو می‌شدند و با گرانی قیمت و کمبود مواد اولیه روبرو می‌شدند.

اما اکنون این مشکلات روز به روز رفع می‌شود چون افغانستان همه روزه ارتباطات اقتصادی خود را با کشورهای منطقه گسترش می‌دهد و در این عرصه روز به روز پیشرفت صورت می‌گیرد. اکنون افغانستان چندین بندر تجارتی فعال دارد که با کشورهای همسایه تجارت مستقیم دارد، بندر چابهار افغانستان را از طریق کشور ایران با بحر وصل نموده و از طریق این بندر با کشور هندوستان داد و ستد و تجارت جریان دارد که در نتیجه نیازهای مردم افغانستان فراهم می‌شود.

افغانستان امروز از طریق بندر اسلام قلعه در ولایت هرات و از بندر زرنج در ولایت نیمروز با ایران تجارت می‌نماید و از راه بندر تورغندی در ولایت هرات و بندر آقینه در ولایت فاریاب راه فعال تجارتی با کشور ترکمنستان دارد، همچنان بندر تجارتی حیرتان در بلخ با کشور ازبکستان و از راه بندر شیرخان در ولایت کندز ارتباطات اقتصادی کشور با ازبکستان و تاجیکستان را تشکیل داده همچنان تورخم، سپین بولدک و غلامخان بندرهای تجارتی میان افغانستان و پاکستان است. این در حالیست که چند دهه قبل تنها دو یا سه بندر از این مجموعه فعال بودند اما فعلاً یک یا دو بندر اگر بسته شود، قیمت‌های مواد اولیه در افغانستان تغییر چندان نمی‌کند چون افغانستان عملاً این تجارب را در چند ماه گذشته دید فعلاً جاگزین آن بندرها وجود دارد و کشور با کدام مشکل جدی مواجه نشده در قیمت‌های همه مواد کدام نوسان جدی به وقوع نه پیوسته است و تعادل تجارت همچنان پابرجا است.

امروز افغانستان در حال رشد ارتباطات تجارتی در منطقه است و در این عرصه تغییرات زیادی در تجارت کشور به وجود آمده پروژۀ تاپی در حال اجرا است و کار آن جریان دارد که در این اواخر حدود چهارده کیلومتر از این پروژه در خاک افغانستان تکمیل شده و حدود صد کیلومتر آن سروی شده که از آن جمله هفتاد کیلومتر سرک برای پیپ دوانی آماده شده در کل حدود ۸۱۴ کیلومتر این پروژه در خاک افغانستان طراحی شده است.

این پروژه که می‌تواند تغییرات زیادی در زندگی مردم افغانستان به وجود بیاورد چون ترانزیت کالاها، گاز و فایبر نوری از این طریق به کشورهای هند و پاکستان








انتقال می‌یابد بناً افغانستان در جایگاه خوب اقتصادی و تجارتی منطقه قرار می‌گیرد.

همچنان سرک واخان که افغانستان را با کشور چین وصل می‌سازد نیز اهمیت زیادی دارد و افغانستان می‌تواند نیازهای خود را از این طریق مرفوع بسازد چون کشور چین یک کشور صنعتی در قاره آسیا است و در عصر امروز تولیدات زیاد آن به کشورهای آسیایی، اروپایی، امریکایی و تمام جهان صادر می‌شود که حجم زیاد کالاهای مورد نیاز افغانستان نیز از این کشور وارد شده می‌تواند. فعلا تجاران افغانستان مالیات هنگفت را به کشورهای منطقه پرداخت می‌کنند تا اموال شان از طریق آن کشورها عبور کند و از چین به افغانستان برسد. اگر راه‌های مواصلاتی واخان ساخته شود و افغانستان مستقیم با چین وصل گردد، رنگ تجارت در کشور نیز تغییر خواهد کرد از احتیاج کشورهای منطقه و پرداخت مالیات هنگفت بخاطر عبور اموال شان از راه دور و دراز رهایی می‌یابد و حتی قیمت‌ها در بازار افغانستان نیز کاهش چشم‌گیر خواهد یافت.

ضمن این که ارتباطات جدید اقتصادی توسط خط آهن از طریق پروژۀ تاپی با کشورهای ترکمنستان، پاکستان و هندوستان و از طریق واخان با کشور چین در اقتصاد تغییر آورده می‌تواند همچنان در کاهش و تعادل قیمت‌ها نیز کمک چشم‌گیر کرده می‌تواند. باید خاطر نشان ساخت که ضمن تاثیرات مستقیم بر تجارت و کاهش قیمت‌ها در بازار، افغانستان موقف منطقوی خود را دریافت خواهد کرد و در میان کشورهای منطقه موقف خاص اقتصادی خود را خواهد داشت همچنان از انزوای اقتصادی بیرون می‌شود.

علی‌رغم این‌که تجارت منطقه به ویژه ترکمنستان و چین به افغانستان باز می‌شود یک راه ترانزتی و تجارتی برای اموال چین نیز محسوب می‌شود که تجاران اموال شان‌را از طریق راه مواصلاتی واخان و افغانستان به بندر چابهار خواهد رسانید همچنان از پاکستان به ترکمنستان و آسیای میانه، صادرات و واردات جریان پیدا می‌کند که به اقتصاد مردم افغانستان تاثیر مستقیم می‌گذارد و تجارت منطقه را نیز متاثر می‌سازد.

در پایان می‌توانیم بگویم که افغانستان در چند دهۀ گذشته در عرصه اقتصاد یک کشوری منزوی بود اما اکنون دوباره جایگاه خود را باز یافته و کشورهای منطقه با افغانستان معاملات خویش را می‌افزاید و اقتصاد کشور مدیون یک راه و بندر تجارتی و یا یک کشور مشخص نخواهد بود.

# RTA World

## Afghanistan International Network

Afghanistan National Radio and Television (RTA) stands as the country's primary state-owned media institution, responsible for providing continuous, reliable, and diverse broadcasting services across Afghanistan. With five specialized television channels, RTA, RTA Sport, RTA Education, RTA News, and RTA World.

RTA delivers -24hour programming in multiple fields, ranging from news, Islamic education, and sports to cultural and training content. Each channel serves a unique purpose, targeting specific audiences and addressing the varied needs of Afghan society.

RTA's domestic broadcasts are primarily delivered in the country's official languages, Pashto and Dari, ensuring accessibility to the entire population. These channels play a vital role in informing citizens, promoting national culture, and supporting the government's communication strategies. Over the years, RTA has become a key pillar of Afghanistan's media landscape, trusted by millions for accurate reporting, cultural programming, and educational content.

Recognizing the need to extend Afghanistan's voice beyond its borders, RTA leadership identified an essential requirement: communicating the perspectives, realities, and aspirations of the Afghan people and government to the international community. To address this need, RTA established RTA World, an international television channel broadcasting 24 hours a day in English and Arabic. The creation of RTA World marks a strategic milestone in Afghanistan's media outreach, aiming to provide global audiences with firsthand information about the country, its people, and its government's viewpoints.

The mission of RTA World is multifaceted. First and foremost, it seeks to document the impacts of over two decades of foreign occupation in Afghanistan. The channel presents verified reports and documentaries on the actions of foreign forces, highlighting the atrocities committed during the conflict. Through these programs, international viewers gain insight into the challenges faced by Afghan citizens, the social and economic disruptions caused by occupation, and the resilience of communities striving to rebuild their lives.

RTA World goes beyond historical documentation. It offers daily news bulletins, in-depth analyses, and feature programs that examine Afghanistan's political landscape, economic development, and social realities. By broadcasting in English and Arabic, the channel ensures that international audiences understand Afghanistan's official policies, government perspectives, and cultural context. This outreach not only provides information but also counters misinformation, offering an authentic portrayal of Afghanistan's struggles, achievements, and ongoing development.

Moreover, RTA World serves as a platform to highlight Afghan culture, traditions, and achievements to the world. Documentaries, interviews, and cultural programs showcase Afghanistan's rich history, artistic heritage, and the resilience of its people. By combining news reporting with cultural programming, the channel provides a balanced perspective that emphasizes both challenges and progress.

In addition, the channel plays an essential role in shaping global perceptions. During periods of conflict, international coverage of Afghanistan often lacked depth or context. RTA World addresses this gap by delivering accurate, verified, and contextual information. The channel's content educates viewers about the root causes of issues, the consequences of foreign intervention, and the efforts of Afghan institutions to promote peace, governance, and development. By doing so, it strengthens Afghanistan's international image and fosters understanding between the country and the global community.

Through continuous -24hour broadcasting, RTA World ensures that Afghanistan's voice is consistently heard worldwide. The channel contributes to diplomacy, international awareness, and cross-cultural dialogue by presenting reliable news, official government statements, and human-interest stories. Its programming emphasizes transparency, factual reporting, and the documentation of historical events, making it a credible source for international audiences seeking to understand Afghanistan beyond stereotypes and misinformation.

In conclusion, Afghanistan National Radio and Television, through its domestic channels and the international platform RTA World, fulfills a critical role in both national and global media landscapes. By broadcasting in multiple languages and covering a wide range of topics from political developments and economic initiatives to cultural heritage and historical documentation, RTA ensures that Afghanistan's story is told authentically and comprehensively. RTA World, in particular, represents a strategic vision to provide international audiences with a complete, factual, and engaging understanding of Afghanistan, its people, and its journey toward peace and development. Through this initiative, RTA not only informs and educates but also fosters global awareness, dialogue, and connection, strengthening Afghanistan's presence and voice on the world stage.

Writer: Wahidullah Momand






# د لقمان حکیم (رح) نصیحتونه خپل زوی ته!

١. له مور او پلار سره په نېکۍ چلند کوه.
٢. پوه شه چې هېڅ شی له الله ج پټ نه دي.
٣. لمونځ هغه قسم چې ښايي اداء کړه.
٤. د نورو نصيحتونه او مشورې مه هېروه.
٥. له بدکارو نه هېڅ وخت د نېکۍ او ګواڼې طمعه مه کوه.
٦. له نورو سره په کبر او غرور رفتار مه کوه.
٧. په لاره تللو کې درمیانه اوسېږه.
٨. په نورو باندې مه په غصه کېږه او ورسره په نرمۍ خبرې کوه.
٩. په هغه څه چې نورو ته یې نصیحت کوې خپله پرې ژر عمل کوه.
١٠. لږې خبرې کوه.
١١. خپل رازونه دې فقط له ځان سره وساته.
١٢. هغه دوست ته دوست ووایه چې په سختۍ کې در په کار شوی و.
١٣. له بدانو او جاهلو سره بنډار مه کوه.
١٤. له عالمانو او هوښیارو خلکو سره تعلقات وساته.
١٥. کاروبار او نېک کار کې جدي اوسه.
١٦. د زلمیتوب ورځې دې غنیمت وشمېره.
١٧. د دوستانو احترام کوه.
١٨. د مور او پلار وجود غنیمت وګڼه.
١٩. ښوونکی د مور او پلار په څېر وګڼه.
٢٠. په ټولو کارونو کې میانه حاله واوسه.
٢١. اولاد ته دې اسلام او دینداري ور وښایه.
٢٢. په لږ ویلو، لږ خوړلو او لږ ویده کېدلو ځان عادت کړه.
٢٣. د نورو مرستې او یارۍ ته مه په تمه کېږئ.
٢٤. هېڅ کار مخکې له مکمل پلان لرلو مه کوه.
٢٥. د نن کار سبا ته مه پرېږده.
٢٦. له مشرانو سره اوږدې خبرې مه کوه.
٢٧. محتاجان له خپل مال او دارایي مه محروموه.
٢٨. تېره شوې دعوه او دښمني مه تازه کوه.
٢٩. د نورو نېک کار په خپل ځان مه تپه.
٣٠. له خپلوانو سره خپلوي مه پرې کوه.
٣١. د ولاړو خلکو په حضور کې مه کېنه.
٣٢. هېڅوک د چا په مخکې مه رسوا کوه.
٣٣. ویل شوې خبره بار بار مه تکراروه.
٣٤. د زنانه‌يي خوی او لباس څخه ډډه وکړه.
٣٥. په بدکارۍ کې له چاسره لاس مه یو کوه.
٣٦. له الله ج سره صادق او له خلکو سره په انصاف چلېږه.
٣٧. د خبرو په وخت کې د نورو خبرې مه پرې کوه.
٣٨. د خلکو په اصلاح کې یوه زره سستي هم مه کوه.
٣٩. په هېڅ کار کې عجله مه کوه.
٤٠. ادب او عاجزي هېڅکله هم مه هېروه.

د اسلامي امارت د محاکمو ټولو قضاتو او مسؤولینو ته لارښوونه کوم چې خپل درانه مسؤولیت ته په کتو د خلکو د حقه حقونو په تر لاسه کولو او منازعاتو د حل په برخه کې له پخوا ډېر جدي و اوسئ او په قضاوت کې د قوي او ضعیف کس تر منځ توپیر ونه کړئ، له هر چا سره عدالت او مساوي چلند وکړئ.

عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوي
هبة الله اخند زاده حفظه الله تعالی

ملي اپلیکیشن سکن کړئ